د انسانیت جذبه مې زړه کې د انسان خوښېږي
زما د ژمي شپه په غېږ کې د جانان خوښېږي
رښتیا رښتیا ووایم ملګرو لږ څه غوږ شئ راته
ستوري په ځمکه هم مې ستوری د اسمان خوښېږي
ستوری

# ستوری

د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنې خپلواکه،
ناپیلې، کلتوري او ادبي خپرونه

# Stori

Indepedet, Cultural and literary magazine

څوارلسم کال ، څوارلسمه ګڼه، جنوري ۲۰۲۱/ دلو ۱۳۹۹

14th yer, 14th Issue , Janwari 2021




## په دې ګڼه کې:


د ډاکټر کبیر ستوري لېسي پنځوسمه کلیزه
ادبې کره کتنې موخې او غرض
لنډه کیسه
د ستورو کاروان
ژور خفګان
د مینې پیغام


باور مې هله د خپل ځان په څځېدلو وکړ
چې ستا د سترګو لېوني باران ته ودرېدمه
مخ ته مې مه ګوره کافر شوې
زه مسافر اشنا په خدائ سپالې یمه
د نړۍ خلک قلم پسې ړانده شوو
پښتانه چې بې ټوپکه شي شرمېږي

مه تره شمله یاره په غاړه دي اوړې ښه ده
سل بې ننګ زلمو نه یوه نره ملالۍ ښه ده
ته کېنه کرار په کور بل دي کړه وړه ته اور
ما ته د خوشحال توره چابکه غیرتۍ ښه ده
ته لولي د بل بوستان هېر دي کړو د مور لسان
ما ته د غني یوه غزله لیونۍ ښه ده
ته وایې د ګلستان نغمې زه وایم د رحمان نغمې
ما ته د کرور ملې بدله پخوانۍ ښه ده
ځان به هله شي مې ځان شي چې د وطن قربان
ستوریه د پردۍ بنګلې نه دا خپله کیږدۍ ښه ده

www.kabirstori.com

# Stori ستوري

## خپلواکه، کلتوري او ادبي خپرونه

ځوارلسم کال ، ځوارلسمه ګڼه، جنوري ۲۰۲۱/ دلو ۱۳۹۹


**د امتياز خاوند**

د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنه

**مسوول مدير**

عرفان ا لله کوټوال 0772931465

**مرستيال**

هدايت ا لله حيات 0774322484

**کتنپلاوی**

پړندوی وجيه اځ شپون،

څېړندوی عبد القيوم زاهد مشوانی

څېړندوی عبد الظاهر شکيب

**چاپ ځاي**

هېواد صافي مطعه ، ننګرهار- افغانستان

ډيزاين حماد حبيبي 0778810824

**کلنۍ ګډونبيه**

افغانستان کې: ۲۰۰ افغانۍ

پاکستان کې: ۲۵۰۰ کلداري

په نورو هېوادونو کې:۵۰ امريکايي ډالر

**ديوې ګڼې بيه:**

افغانستان کې: ۴۰ افغانۍ

پاکستان کې ۸۰ کلداري


( ستوری) ستاسو خپرونه ده ، ستاسي ليکنې نيو کې او وړانديزونه په ورين تندي مني.

اداره

## لړليک


| شماره | | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سر ليکنه | ۱ |
| ۲ | سياست د اسلام له نظره | ۲ |
| ۳ | ځوانان او رواني ستونزې | ٦ |
| ۴ | ډاکټر کبير ستوري لېسې پنځوسمه کليزه | ۸ |
| ۵ | د ميني پيغام | ۱۲ |
| ٦ | د روغتيايي علومو انستيټيوټ امر دوکتور حبيب الله فرهومند سره مرکه | ۱۵ |
| ۷ | خاص کنړ ولسوال سره مرکه | ۱۷ |
| ۸ | د ښځي او خاوند ژوند ولي په تاوتريخوالي بدليږي | ۱۹ |
| ۹ | ستورو کاروان | ۲۱ |
| ۱۰ | د معدي ښه او اسانه علاج | ۲٦ |
| ۱۱ | د مطالبو اړوند انځورونه | ۲۷ |
| ۱۲ | د مثبت او ستر فکر ګټي | ۳۱ |
| ۱۳ | ادبي کره کتني موخه او غرض | ۳۳ |
| ۱۴ | اروابناد ډاکټر کبير ستوري ژوند او سبک پيژندنه | ۳٦ |
| ۱۵ | ژور خفګان | ۴٤ |
| ۱٦ | لنډه کيسه | ۴۷ |
| ۱۷ | ۵ فعل او ده غي ځولونه | ۴۹ |
| ۱۸ | سيد جمال الدين افغان پوهنتون کې پښتو ژبې څپربه ير | ۱ |
| ۱۹ | کور وداني او مننه | ۵۲ |
| ۲۰ | د يوی کوچنۍ قيصې ژباړه | ۵٤ |
| ۲۱ | نبوي ملغلرې | ۵۵ |
| ۲۲ | کرونا نارغۍ مخنيوي په خاطر احتياطي تدابير | ۵٦ |


# Stori ستوري


**د ستوري استازی**

کابل:...................... عبد الظاهر شکيب

ننګرهار:.................. شفيع ا لله تاند

ونړ:...................... احسان اګا احسان حليمزی

اسمار:.................... اختر محمد مومند

لغمان:.................... عسکر خان چالاک

پېښور:.................... ذبيح شفق

جرمني:.................... نسيم ستوري

**پته**

د کونړ ولايت، د خاص کونړ ولسوالي،

د تنر کلي دستوري د خپرونې اداره

کوټوال: 0772931465

حيات: 0774322484

کوچوان: 0772935377


ستوری مجله د هيڅا د ليکنې ننګه نه کوي، هر ليکوال ته بويه، چې د خپلې ليکنې سپيناوی پخپله وکړي ستوری مجله به هغه ليکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي يووالي ته په زيان تماميږي.

جانانه پروت يم بد مې حال دي
هر يو ساعت په ما يو کال دي
په مادي کړي ښه کمال دي
د يوسفزي دغه يو سوال دي
که ياري کړې سږنې کال دي
بيا مې د بريتو خط راځي بدرنګ به شمه

نجينر ذبيح اا (يوسفزی) اراضوال

★★★

شملې پکې د سپو په سر
پښتو پکې لغړه
ځوانې پکې قتليږي
او واکدار د کلي ډم دي

غني خان

زه خـــــــو دا ستا لايقه نه يم
ورکه پښتو شه ميراثي درپاتي يمه

خدايه ته دامن پرېښتي پکې راښکته کړې
خدايه جګړه ډېره په تيزۍ په مخ روانه ده
ما پکې تر اوسه د غربت جامې اغوستي دي
چا وويل چې دنيا د ترقۍ په مخ روانه ده

اوس مې لوفري نه توبه کړې ده
اوس د ملا زوي سره جومات ته ځم

# سر لیکنه

د عقل د خاوندانو دغه غوښتنه وي چې په نورو کې دي ښاغلې وي او که دا هم نه وي نو چې لږ ترلږه د نورو خو په یا دوي او د حقدار په توګه يې وپیژني.

دغه چاره یوه فطري پدیده چې د عقل او شعور د خاوندانو سره په پید ایښتي بڼه مل ده نو دا چې د ستوري مجله پخپل وخت هر ډول ستونزو حل چې د ټولنې غوښتنه وي خپلو مینه والو ته وړاندې کوی ترڅنګ خپلې موخې هم تعقیبوي چې عبارت دي له یووالي، اتحاد او اتفاق څخه همدا شان د عدالت په رڼا کې پورته موخو ته کار کوي که د پښتون او پښتونولۍ ناره چې په هره کچه ډیریږی د کرکې او نفرت څخه پاکه د هر قوم ونډه د فکر په ایینه کې انځوروي نو په همدي بنسټ پخپله اندازه د هر توکمه حقوقو ته چې زموږ په قلمرو او یا د باندې آړوند توکمونه د پښتون په حقوقو بلوسې د هغوي ذهني تنویر لپاره خپل غږ په مدلل او منطقی توګه وړاندي کوي.

دغه هدایت او لارښوونې د شارع د اصولو سره هم مطابقت کوي څرنګه چې زمونږ په اسلامې ، افغانې ټولنه کې د هر شې د اندازه کولو پیمانه یوه اسلامې پیمانه ده نو د اسلامې ارشاداتو ته په کتو د پیژندنې په پروسه کې باید د پښتون پیژندنه پکار ده چې د حق او عدالت په ترازو کې پیمانه او ومنل شي، د ستورې اداره هیله منده ده چې د یوه لوري د پیروۍ پر ځاي د ورور ګلوۍ او د یوالی یوه عمومي پیروي چې هرچاته خپله ونډه حقوق پکې حاصل وي تعقیب شي چې د یوالي بنسټ پکې ترټولو د قوي دریځ خاوند شي

په درنښت

اداره

# سیاست له اسلام له نظر

لیکوال مولوي ضیاء الرحمن




الحمد الله مانح الملوک ریاسه البلاد ،وموليهم سياسه العباد ومويدهم بالنصر على الاضداد من أهل اشقاق والعناد ،وواعدهم على المعدله حسن العاقبه في المعاد :!(إِن الله لا يخلف )![ال عمران:9 ] ،احمده على ما انعم وافاد واشکره شکرا الیس له نفاد واشهد ان لا اِله اِلا الله وحده لا شیک له ، شهادة اخلص له فیها اللسام والقؤاد ، واشهد ان محمداُعبد ه ورسوله الناسخ الضلالةبۍ الرشاد صلی الله علیه وعلی اله الامجاد واصحابه الرهاد، صلاة لا ینحصر لها تعداد اما بعد [لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسننة] الایه

ژباړه یقینا شته دی ستاسو لپاره د الله تعالی په رسول کې ښکلی نمونه ...

سیاست زموږ د دین اسلام یوه موهمه برخه ده ځکه دین اسلام دډیرو برخو څخه جوړ دی چې عبارت دي د عقاید ،عبادات ، اخلاق، معاملات ،اقتصاد ،صلحه ، نظامي ، امور،کورنۍ، چاری بهرنۍ چاری دي چې یوه برخه یې سیاست دی، ددې وجې نه مونږ لومړی د سیاست لغوي او اصطلاحي تعریف کوو، او بیایې دوه برخوته ویشو اوپه اخره کې سیاست مفهوم او مقصد د قران او سنت په رڼاکې تشریح کوو.

سیاست د کلمي لغوي معنا:

د سیاست کلمه د سَاس یسُوسُ د کلمي څخه اخیستل شوی ده چې اصلي معنا

[اصلاح کول او ښایسته کول]دي

اوپه اصطلاح کې (دیو شي داصطلاح لپاره ملا تړل او کلک هوډ کولو ته سیاست وایي)چې داد یو مدر او لارښود کار دی : د سیاست معنا مکر ، فریب، چل، جنګول،او غولول نه دي بلکې سیاست د هغه پوهي او حکمت نوم دی چې د خلکو ترمنځ وروو ولي محبت ، یو والي و اتفاق راپیدا کوي ،څوک چې د جنګ او جګړو حوړولو باعث ګرځي سیاست پوه نه دی بلکي اصلي سیاست پوه

هغه دی چې د ښه تدبیر او انتظام ترڅنګ نامتو مصلح او د اخلاقو معلم وی.

د سیاست پوهانو له نظره د سیاست تعریف:

علامه ابن خلدون رح فرمايي:سیاست او حکومت د بندګانو د ساتني او د هغوي د ګټو د ساتني او کفالت په بشري ټولنه کې د الله د احکامود تطبیق لپاره الله نیابت او استازيتوب دی.

د فقهي د پوهانو له نظره د سیاست تعریف :

ابن عابدين شامي او ابن نجیم رح په رد المحتار اوبحرالرايق کې د سیاست د عام مفهوم داسې یادونه کړي : د اصلاحي تدبیرونو اختیارول او د حکومت نظم ونسق پرمخ بوتللوته سیاست ویل کیږي

عصری پوهان سیاست داسې تعریفه وي:

(سیاست پر خلکو د حکومت کولو علم دی)

علامه ابن خلدون رح سیاست په دوه برخو ویشلی دی .

1 : اول : شرعي او ديني سیاست

هغه قوانین چې د الله تعالی د لوري مقرر شوي وي او د نبي په واسطه نافذ شوي وی پر هغه قوانینو ولاړ حکومت او سیاست ته شرعی سیاست وايي

ددې قوانینو هدف د انسانانو ددنیا او اخرت د ژوند ګټې او مصالح لاس ته روړل دي

2 :دوهم: عقلي سیاست ،

قوانین چې د قوم د عاقلانو د حکومت د مسؤلینو او نورو پوهانو په واسطه وضع شوي وي نو پردې قوانینو ولاړ سیاست او حکومت ته عقلي سیات ویلي کیږي

ددي قوانینو هدف د نیوي ګټې او ارام ژوند دی او د نیوي تاوانونو څخه نجات دی

هر کله چي مونږ د سیاست د کلمي لغوي او اصطلاحي معنا او پيژنده . اوس غواړو چې ددې څخه بحث وکړو په خپل اسلامي مصادرو کې ا یا په قرانکریم یا په سنت مطهره یا په اسلامي کې دا کلمه موندل کیږي؟

ځیني وایي چې سیاست ددین اسلام څخه بهر دي سیاست جدا شی دی او دین جدا شی دی دوی دا دلیل وايي چې دسیاست کلمه په

قرانکریم کي نده داغلي او ددې قول په غلطیاکې هېڅ شک نشته ځکه ډېر ځله یوه کلمه په قران کي نه وي ذکر لیکن د هغې مفهوم په قران کې ذکر وي مثلا د عقیدي کلمه چې په قران کي نه ده ذکر لیکن معنا ددي کلمي په قران کي ذکرده همدا شان کلمه د (سیاست)اګرکه په قران کي نه ده ذکر لیکن ددې کلمي مفهوم او معنی په قرانکریم کې ذکره ده چې پردي باندې دلالت کوي کله کلمه د (ملک) چي مراد تری نه بادشاهي پر خلکو باندي ده چې د خلکو قیادت او مشري او خلکو ته امر ،اونهي،کول دي دا کلمه په قران کې پر مختلفو الفاظ ذکر شوی ده په بعض کې صفت او ستاینه راغلي او په بعض کې بدي راغلي ده بعض عادل باشاهان دي او بعض ظالم بادشاهان دي بعض په ظلم سره او بعض په مشوره سره رامینځته شوی دي ، د عادل او د ښه حکومت په اړه قران داسې وايي :[فقد اتینا ال ابراهیم الکتاب ولحکمة واتینا هم ملکاعظیما] ژباړه : یقینا ورکړي و مونږ اولاد د ابراهیم ع ته کتاب او حکمت (پیغمبري)او ورکړیده مونږ هغوي ته بادشاهي لویه او همدارنګه یوسف ع فرمایي (رب قد اتیتني من الملک) ژباړه : ای ربه ! یقینا تا راکړی ماته بعض بادشاهي او همدارنګه طالوت ته هم الله بادشاهي ورکړې وه ( وقال لهم نبیهم ان الله قد بعث لکم طالوت ملکا) ژباړه : یقینا الله تعالی پر تاسو باندي طالوت بادشاه مقرر کړیدي او همدارنګه په احادیثو کې په تفصیلي ډول ذکر ده یو د هغي ځخه دا احادیث دی 1 عن ابي هریره ان النبي صلی الله علیه وسلم قال کانت بنو اسرائیل تسوسهم الانبیاء کلما هلک نبي خلفه نبي وانه لا نبي بعدي وسیکون خلفاء فیکڅون قالوا : فما تامرنا ؟ قال : فوا بیعة الاو لفالاول واعطوهم حقهم الذي جعل الله لهم فان الله سائلهم عما استرعاهم منفق علیه ژباړه: دابي هریره رضی الله عنه ځخه روایت دی چې نبي 6 فرمایلي وو:د بني د اسرائیل سیاست به انبیاؤ مخی ته وړه هر کله چې به یو نبي وفات شو نو ورپسې به بل نبي رالیږلو یقینا چې زمانه وروسته نبي نشته زمانه وروسته به خلفاء وي ډېر زیات دوی وویل :تاسو مونږ ته څه حکم کوي ؟نبي ع وفرمایل : د لومړي سره په بیعت باندی وفا وکړئ ،الله تعالی چې پرتاسو کوم حق کینبودی دی هغه ورته ورکوئ الله تعالی ددوي ځخه د خپل رعیت په اړه پوښتنه کوي

لومړي ځل لپاره چې کلمه د سیاست د ولایت یا حکم په معنی استعمال شوی ده :د کویت په یو فقهي معلوماتو پانګه کې داسې راغلي دي د (سیاست) د مادي په اړه : شاید لومړنی نص چې د کلمي د سیاست لپاره استعمال شوی هغه قول د عمرو بن اعاص رض دی ابي موسی اشعري رض ته د معاویه په صفت کې چې ما معاویه د عثمان ولي العهد ومند چې ډیر ښه سیاست مداراوښه تدبیرلروونکې شخص دی او دا خبره منل شوی ده که چیرته کلمه د سیاست د مصدر شي اګر ماده د سیاست فعل دی ځنګ چې په حدیث کې ذکر شوه 2 روی ابن ابي شیبه في مصنفه ، والحاکم في مستدرکه،عن المستظل ابن حصین ،قال :خظبناعمر بن الخطاب فقال :قد علمت -ورب- الکعبه – متی تهلک العرب! فقام الیه رجل من المسلمین، فقال:متی یهلکون یا امیر المؤمنین ؟قال:حین یسوس امرهم من لم یعالج امر الجاهلیه ،ولم یصحب الرسول

او همدارنګه کلمه د سیاست په کلمي د فعل سره د عمر د زماني څخه په صفت کې استعمال شوی ده په یو حدیث د ابن ابي شیبه او دحاکم کې د مستظل ابن حصین څخه روایت نقل کړي دي دا وایي :عمر بن خطاب مونږ ته خطبه بیان او په خطبه کې داسې وویل قسم می دی د کعبي په رب وي چې ماته پته ده چې عرب کله هلاکیږي ! د مسلمانانو د ډلي څخه یو کس ورپورته شو او ورته یي وویل یا امیرالمؤمنین کله به هلاکیږي ؟ هغه ورته وویل کله چې سیاسي چارې هغه ته حواله شي چې زمانه د جاهلیت یي نه وي لیدلي او د نبي سره یي ملګرتیا هم نه وي کړي

ابن سیدنا علی رضي الله عنه :روي ابن ابي شیبه في مصنفه وابن الجعد في مسنده:قال علي:یا اهل الکوفة ! والله لتجدن في اسر الله ولتقاتلن علي طاعة الله او لیسوسنکم اقوام انتم اقرب الی الحق منهم فلیعذ بنکم ثم لیعذ بنهم .

او همدارنګه سیدنا علی څخه ابن ابی شیبه په خپل مصنف او ابن الجعد په خپل مسند کي رانقل کړي دي علی وویل اي د کوفي ولاؤ ! یاخوبه تاسو د الله په امر باندي کلک شئ او د الله ج په طاعت باندي به جنک کوئ او یاخوبه ستاسي په سیاسي چارو باندي هغه خلک مسلطیږي چي تاسو به د هغوي څخه حق ته ډیر نژدي یاست پس هغوی به تاسو عذابوي او بیا به عذابیږي

# ځوانان او رواني ستونزې

محمد شفیق (رفیقي)



که چیرې د هېواد جګړه ییزو شرایطو ته وکتل شي داسې ښکاري چې زموږ په هېواد کې د اکثرو خلکو په شمیر کې زیات ځوانان له رواني ستونزو سره مخامخ شوي دي. که وغواړو که ونه غواړو دغه موجوده حالات او عوامل زموږ د ځوانانو په روان باندې له بیلا بیل لارو اغیزه کوي او ورباندي اخته شوي دي.

کله کله داسې کیږي چې په یوه کورنۍ کې یو ځوان په رواني ستونزو اخته شوي وي کورنۍ ورته متوجي نه وي بلکې دهغه په مقابل کې له سخت دریځ څخه استفاده کوي دغه له قهر ډک چلند د ځوانانو رواني تکلیفونه نور هم زیاتوي.

د ځوانانو له رواني ستونزو یوه دا ده چې د کورنۍ د غړو په مقابل کې تند خویه وي، هیڅ خبره په کراره نه کوي په هره ورور خبره کې خپل غږ پورته کوي، د هرې خبرې په مقابل کې عکس العمل ښیي. ژر ژر په قهر کیږی له خپلو همځولو سره یې ورو ورو ناسته کمیږي او په یوازې ځان ژوند کول

ورته ښه ښکاریږي، وزن له لاسه ورکوي رنګ تور توسیدلی ښکاري اکثره وخت خوب له لاسه ورکوي، او تل په چورتونو کې ډوب وي او کله کله داسې ځوانان د خوب د ترلاسه کولو او له چورتونو څخه د خلاصون لپاره نشه یې توکو ته لاس اچوي لا یې ژوند خراب شي، داسې ځوانان کوښښ کوي چې تل یوازې اوسي او هر کار ترې نیمګړي پاتي کیږی او له ملګرو سره یې مینه ورو ورور کمیږی.

د ځوانانو دغه رواني ستونزې زياتره له لسه کلني څخه راپيلېږي خو کورنۍ د هغوي په وړاندې به دغو رواني ستونزو نه پوهيږي په کورنۍ کې پلار ، مور يا د کورنۍ غړي د هغه په هکله فکر کوي چې ګني دا تربيه نه لري د چا خبره نه مني. دي لټه دي ، دی چا ته درناوی نه لري، دی بې ادبه دي، ليوني دي، ميلمنو ته سترې مشي نه کوي او ورسره نه کيني، دا ټولې رواني ستونزې دي چې بايد کورنۍ ورسره له جدي کړنو کار وانه خلي.

داسې رواني ستونزې که چيرې ورسره له احتياط څخه کار وانه اخيستل شي ان د ځان وژلو تر پولې خطرناکې پايلې رامنځه کوي.

مثلاً د زده کړې په دوره کې داسې ځوانان چې زړه يې په يوه کار کې تنګيږي د درس ويلو ته يې زړه نه کيږي، درس نه وايي او په حقيقت کې ورور ورو له درس ويلو څخه پاتې کيږي او له ۱۲ ټولګي ورسته دداسې ځوانانو د کانکور لپاره زړه نه کيږي. د حل لاره يې داده چې کورنۍ ور سره ښه چلند وکړي او بايد د هغه د کوم نږدې دوست پواسطه د هغه د رواني تکليف علت پيدا کړي او هغه علت له منځه يوسي

بله دا چې داسې ځوانان که چيرې په کورنۍ کې ورسره ښه نرم چلندونه شي، دوه خبرې رامنځته کيږي يا به د کورنۍ د فشار او دهغه په وړاندې د ناوړه سلوک له امله تښتې ته مجبوريږي او يا خو به د کورنۍ د فشار او د هغه په وړاندې د ناوړه سلوک له امله تښتې ته مجبوريږي او يا خو به د خپل ځان د وژنې په برخه کې څه اقدام وکړي.

کورنۍ بايد د داسې ناروغانو په وړاندې له ډير نرم چلند څخه کار واخلي او هغه څه چې غواړي هغه ورته برابر کړي او تل يې خوشحال وساتي چې په راتلونکي وخت کې د نوموړو ناروغو ځوانانو په وړاندې سختۍ او ستونزې رامنځته نه شي.

# ډاکټر کبیر ستوري لېسې پنځوسمه کلیزه

راټولونکې:
د کبیر ستوري لېسې برحاله آمر
وارث احساس





د شاه محمود میاخیل پیغام

یو عالم وایي: علم یوازې د ژوند لپاره نه دی، بلکې علم ټول ژوند دی

که خپل اولادونه له فقر، نېستی، دربدری او غلامی ژغورل غواړئ؛ یوازینی لار یې زده کړه ده. عبد الوارث احساس)

خاص کونړ پېژندنه

خاص کونړ ولسوالی د کونړ ولایت له ولسوالیو څخه یوه ولسوالي ده چې د کونړ له مرکز اسد اباد څخه (۴۵) کیلو متره لرې لویدیځ لور ته موقعیت لري چې ټول مساحت یې (366) کیلو مربع دی. نوموړې ولسوالی له (۹۶) کلیو څخه جوړه چې د مرکز نوم یې خاص کونړ دی د یادي ولسوالی څلور خواوې په دې ډول دي چې لویدیځ لور ته یې د ننگرهار ولایت خیوې او جنوب لویدیځ ه یې د کامې او گوشتې ولسوالی جنوب لور ته یې د ډیورنډ فرضي کرښه ختیځ لور ته یې د سرکانو ولسوالي او شمال لور ته یې د کونړ ځپانده سیند بهیږي، دا ولسوالي له پاکستان هېواد سره (۲۱) کیلومتره فرضي پوله لري، د ځایي مسئولینو په وینا ددې

ولسوالی د وگړو شمېر له یو لکه پورته دی، چې (۵۴.۳۱)سلنه نارینه او (۴۵.۲۹) سلنه یې ښځینه دي خاص کونړ پراخه کرنیزه ځمکه لري چې د کونړ له سیند څخه دوه بېلې شوې ویالې یې خړوبوي.

په خاص کونړ کې د پوهنې تاریخی بهیر

مخکې له دې چې د خاص کونړ ډاکټر کبیر ستوري لېسې د تاریخچې په اړه څه ووایو ، اړینه چې په خاص کونړ کې د معارف په مخینه تم شو ، اوس مهال په خاص کونړ کې څلېریشت بابه ښوونځی ، درې بابه دیني مدرسې، یو باب حمایوي دار المعلمین او یوه د کرنې لېسه موجود ده چې څلور سوه نه تنه اداري او تدریسی پرسونل او (۱۲۱۲۴) تنه زده کوونکي لري.

ځوارلسمه لمریزه پیړۍ هغه پیړۍ ده ي دخپل پېل په پنځلسم کال یې په کونړ کې د یو ښوونځي دراوزه پرانیسته او د ښوونځي د تلې په وهلو سره یې د لومړي ځل لپاره د کونړ ولایت خاص کونړ زوړ کلي د ( الله میر بابا) په دېره کې د پوهنې اذان وکړ او د دې اذان او جرس په غربېدا سره هغه مهال یو شمېره ماشومانو د زده کوونکو په توګه په دغه دېره کې د ښوونې او روزنې الفبا پېل کړه. سید عبد الله پاچا لومړنی زده کوونکی و، چې د ښوونځي په اساس کې ثبت او راجستر شو او نورو ټولګیوال یې وکیل عبد القدیر، میرزاخان جان، عبد الجلیل میرزا عبد القیوم، مدیر ګل اصغر او مدیر محمد امین وو. یاد ښوونځی د الله میر بابا له دېرې نه د (خاني ابۍ) هغه کور ته چې ښونځي ته یې ځانګړی کړی و ولېږدېد او بلها کلونه دلته د معارف شمعه روښانه وه په (۱۳۴۴ ل) کال نوموړی ښوونځی د خاني ابۍ له کوره د تنر کلي لویدیځ لور هدیرې ته ولېږدې، له دې وروسته د یو معارف پال او هېواد پال شخص حبیب ا لله (قاضي اباجان) له خوا له خپل ملکیت نه درې جریبه او شپاړس، بسوې ځمکه د خاص کونړ ولسوالۍ له پاسه د اراضۍ ونډ په اړونده ځمکه کې دغه ښوونځی ته د وړیا په توګه ببله شوه او پر همدې ځمکه د ولسي خلکو په مرسته یو ختین تعمیر جوړ او په (۱۳۴۵ل) ورته نوموړ ښوونځی را انتقال شو. یاد ښوونځی په (۱۳۴۶ل) کال منځنی ښوونځي ته لوړ شو.

د ډاکټر کبیر ستوري لېسې د لوړېدا لومړنی ګام

په (۱۳۴۶ل) کال چې کله د خاص کونړ لومړنی ښوونځی منځني ښوونځي ته لوړ شو نو درې کاله وروسته په (۱۳۴۹ ل) کال کې چې د کونړ ولایت د ښوونې او روزنې مدیر استاد صمیم ا لله خان و، لېسې ته یې د لوړېدا په موخه و ګام واخیست، په دې ترتیب په کونړ ولایت کې د عمراخان او جمعیت له لېسو څخه ورسته دریم ښوونځی و ، چې د خاص کونړ په نوم د لېسې کچې ته لوړ شو.

یادې لېسې په (۱۳۵۲ ل) کال لومړۍ د وره فارغان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل او دغه لړۍ یې تر (۱۳۶۷ ل) کال پورې جاري وساتله، په (۱۳۵۹ ل) کال هغه ښوونیز ودانۍ چې په ولسي مرسته نوموړې لېسې له پاره جوړه شوې وه ذنګه شوه ؛ خو زده کړه ییز او ښوونیز بهیر په ټپه ودرېد. په (۱۳۷۲ل) کال د خاص کونړ لېسې د شاه

محمود میاخېل په ځانګړې مالي مرسته یو ځلې لپاره ساه واخیسته او د لیک لوست بهېږ یې په حرکت راوستله،

په همدغه کال د کونړ والي قاضي غلام صادق له خوا د خاص کوتړ لیسې له پاره د پخې ودانۍ بنسټ ډبره کېښودل شوه، چې مالي لګښت یې د ( V.N.D.C.P ) موسیسی پر غاړه و او پر ( ۱۳۷۳ ل ) کال د دیارلسو اداري او درسي خونو ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د ډاکټر کبیر ستوري لیسې لومړ مدیر د عمرا خان او جمعیت له لیسو وروسته چې کله د خاص کونړ لومړۍ ښوونځی په ۱۳۴۹ ل م کال کې د لیسې کچې ته لوړ شو او د خاص کونړ په لیسه ونومول شو پسې متصل د ولسونو په غوښتنه د باډۍ کلي اوسیدونکی مدیر حبیب الرحمن مومند د نوموړې لیسې د مدیر په صفت و ګمارل شو.

چې تر ۱۳۵۲ ل کال پورې یې د مدیریت چارې پر غاړه درلودې او لومړۍ دوره فارغان یې د ده د مدیریت پر مهال د ټولنې غیږې ته د خدمت لپاره وړاندې کړل له نوموړې وروسته تر ننه پورې د ځوارلس تنه د یادې لیسې رسمي مدیران پاتې شوي دي چې نوموند یې په دې ډول دي:

۱: مدیر صیب ګل اصغر د خاص کونړ زوړ کلی اوسیدونکی

۲: مدیر صیب سید امیر جان شرر د ننګرهار ولایت د ثمرخیلو اوسیدونکی

۳: سراج الدین جدي د ننګرهار ولایت ښېوې ولسوالۍ اوسیدونکی

۴: مدیر صیب عبد الباقي خان د خاص کونړ منګولا اوسیدونکی

۵: مدیر صیب اسلم خان د خاص کونړ حکي اباد اوسیدونکی

۶: مدیر صیب رحیم داد افسرده د خاص کونړ حکیم اباد اوسیدونکی

۷: مدیر صیب عبید الرحمن د خاص کونړ برې اراضۍ اوسیدونکی

۸: مدیر صیب مولانا اجمل حکاک د خاص کونړ تنر کلي اوسیدونکي

۹: مدیر صیب قاري ولي الرحمن د شیګل ولسوالۍ اوسیدونکی






۱۰: مدیر صیب حسین احمد مدنی د خاص کونړ چندر اوي اوسیدونکی

۱۱: مدیر صیب عبد العزیز د خاص کونړ لوټانو اوسیدونکي

۱۲: آمر صیب عبد الغني د خاص کونړ بانډۍ اوسیدونکی

۱۳: آمر صیب عبد الوارث احساس د خاص کونړ حکیم اباد اوسیدونکی

پورته هر یو په خپله دوره کې د زده کوونکو د ښوونې او روزنې لپاره نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړي، چې له برکته یې خاص کونړ په ډېرو ناستو کې د علم زانګو کڼل کېږي.

د ډاکټر کبیر ستوری لېسې ودانۍ او تکشیلاتي جوړښت

د ډاکټر کبیر ستوري لېسې ودانۍ او تشکیلاتي جوړښت

د ډاکټر کبیر ستوري لېسې اوسني تعمیر په یو جریب ځمکه کې په (۱۳۸۹ ل) کال کې جوړ شوی، چې دیارلس اداري او تدریسي خونې لري. چې د زده کوونکو او لوستونکو ستونزې نه شي حلولی اوس مهال د ډاکټر کبیر ستوري لېسه یو امر، یو تن اجرایه مدیر، یو پنځوس تنه ښوونکي ، یولس تنه اجیران او (۲۹۵۰) تنه زده کوونکي لري.

د ډاکټر کبیر ستوري لېسې لاسته راوړنې

نوموړې لېسې د وخت په اوږدو کې علمي او کاډیمیک شخصیتونه ټولنې ته وړاندې کړي دي، چې د بیلګې په توګه د لومړۍ دورې له فارغانو د ډاکټر غلام حیدر، مرحوم انجینر عطا الله او اروابناد ډاکټر غلام فاروق یادونه کولی شو، د دویمې دورې له فارغانو د ډاکټر زمرک،حاجی صیب جان محمد او شاه محمود دریمې دورې له فارغانو د ډاکټر صیب سمیع الحق ،مدیر صیب محمد جان او جمالناصر او د ځلورمې دورې له فارغانو مرحوم ډاکټر صیب غلام محمد غروال او دداخله چارو وزارت د پخواني معین او د ننګرهار اوسني والي شاه محمود میاخیل صیب یادونه کولی شو. د همدې خبرې پر بنسټ ویلی شو چې یاد علمي بنسټ په اکاډیمکو ،سیاسي ،ټولنیزو طبی، انجینري ، اقتصاد، زراعت او د ادب او فرهنګ په برخو کې وړ کادرونه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. همدا ډول د کانکور په ملي ازموینه کې د ( ځلوېښتمې دورې ) فارغ ضیا الحق صاحبزاده د ولایت په کچه د لوړې نومرې په اخیستلو د کابل طبي پوهنتون ته کامیاب او نوموړې لېسې لوړی مقام ترلاسه کړ.

# دميني پيغام

سپېڅلې مينې پرښتې، دا ليک په داسې شپه درته ليکم چې ډېره غمجنه او زړه خوږونکې ورځ مې تيره کړې ده ټوله ورځ مې ستا له لېونو يادونو او ياغي دردونو سره تېره کړه. ثانيه دقيقه ، دقيقه ساعت او ساعت لکه شپه تيريږی کومې چيغې وو هم چې ته ئې واورې، چې تاته زما د ويجاړې زندهګۍ، ستړې لالهانده ځوانۍ، زهر زهر ژوند ، ژوبل ژوبل ارمانونه او زخمې زخمی زړه احساس وشي.

پر کومه لاره درشم، کومه لاره مې تر تا پورې درسوي؟ څومره وژړاړم څومره نوري اوښکې وڅڅوم چې تا تر ماپورې راولي څومره او تر کومه ستا د وصال په ارزو لاسونه لپه کړې ونيسم نور مې لاسونه په دعا او غوښتنه ستړې شول.

يو ديني عالم د مينې تعريف په لاندې توګه بيان کړې.

مينه: دمحبوب په لور د زړه ميلان او اوښتلو ته مينه وايې داد زړه عمل دی چې د



بدن نور غړي پکې داخله نه دي، او هغه واده تر ټولو ډېر ګټور او نيکمرغه وی چې د مينې او محبت په نتيجه کې منځ ته راشي، د مينې او محبت کيلې ليدل کيږ ی همدا لامل دی چې د اسلام ستر قدرمن پيغمبر عليه الصلاة والسلام ځوانان ديته هڅولي چې واده په خپله خوښه وکړي ، مغيره بن شعبه رضی الله عنه فرمايي : ما يوې ښځې ته د واده وړانديځ وکړ رسول الله صلی الله عليه وسلم راته وويل دغه ښځه تا په خپله ليدلې؟ ما ورته وويل نه هغه راته وويل ورشه او په خپله يې وګوره ښايې دا ستاسې ترمينځ د مينې او محبت لامل شي مګر دغه مينه او محبت، د هغې مينې او محبت سره فرق لري کوم چې په اوسني زمانه کې په فلمونو او ليپنو او غربی نړۍ کې. مينځ ته راځي او د اخلاقی فساد په لور رهنمايي کيږي. د ښځې او سړي يو بل په ميلان او مينه والي په حقيقت کې هماغه

خوند او شهوت دي چې ا لله پاک د بشري وګړو لپاره ښایسته کړي. د اسلام ستر پیغمبر صلی ا لله علیه وسلم فرمایي ستاسې له نړۍ څخه مې ښځي او عطر ښه ایسی او لمونځ مې د سترګو یخواله دي که د ښځی او سړي یو بل ته مینه والي نه وائ نو نه به دغه ودونه رامینځ ته شوی وائ او نه دغه ځیږنده دغه مینه او محبت د ناروا اړیکو ټیګولو په خاطر نه دی بلکی ددې لپاره دی چې دواده په لور منتج شی او خپله اینده زنده ګي په ښه خوشحالي او ارامی سره تیره کړی، رسو الله صلی الله علیه فرماي د عاشق او معشوقي درد یواځي په نکاح او واده سره دوا کیدالی شي.) رواه ابن ماجه غن عبد ا لله بن عباس رضی الله عنها بیا هم مسلمان باید په هغو تګلارو تله ونه کړی چې په فحشا سره پای ته رسیږی، لکه له پردي ښځي سره کومه مواخذه نشته خو شرط پکې دادي چې دهغهو اسبابو او لاملونه مخه ونیسی چې ښځه او سړي د حرامو لور ته ورکاږي.

د مینی او دوستي په رابطه د پوهانو څو خبری

مینه دهیڅ شي سره نه مقایسه کیږی، ځکه چې هیڅ شي د مینی په شان دقیق او لطیف نه دي.

د مینی یوه ځانګړتیا داده چې خوږ درد یې هم یو قسم خوند لري. د ښتنی مینانو چوپتیا او بې پروایې، چې دمینی احساس او خوږ درد له منځه وړي.

مینه چې له یوي ښځي سره د یوه نارینه زړه ښښولي له ارادې څخه پورته کار دی.

امام شیوطی وایی: هغه سړي یا ښځه چې په عشق کې ېږېښتنولي او پاکې وي او خپل عشق یې پټ وساته او محبوب په ترلاسه کولو کې بریا نه شو، صبر یې وکړ او همدی حالت کې مړ شوو، به اخرت کې به ورته د شهادت مرتبه ورکول کیږی

د هر چا شرط او لومړیتوب دا وي، چې مینه یې ریښتیې او مقابل لوري یې د پوره باور وړ وي، ډیر ځوانانو او پیغلی به داسي وي، چې د ورځې یو ځل په نویو کسانو مېنانییږی.

د داسې روزماره او په عامه اصطلاح یکبار مصرفینو زیادښت سبب شوی، چې مینه یوه دوکه او بې ارزښته اړیکه وګڼل شي.

خو ریښتني مینه ځنګه وی.

په عام ډول ډیر خلک دا باور هم لري، چې په دي زمانه کې د ریښتي مینه په نوم څه نشته خو داخبره سمه ده نه.؛ موږ باید زمانه ملامته نه کړو.

که په مینی ریښتیا باورمند یوو، هریو باید هڅه وکړو چې پکې ریښتینی اوسوو او دریښتین مینی الګو شوو. دریښتنی مینی په اړه هم عام باور او هم علمی استدلال دادي، چې ترسره کوونکي هلک او نجلۍ يې باید دا مینه کامیابه یاني په ګډ ژوند بدله کړي د کومې مینی چې له پیله داسي هدف نه وی معلوم او د ټول ژوند د ګډ تیرولو تعهد پکې نه وي موجود؛ رښتینی مینه نه شي کیدای.

ریښتني مینه او د مینانو ځانګړتیاوی

رښتینی مینه هیڅکله په نفرت نه بدلیږی، یانې دواړه خواوې یې د هر ډول لوړو ژورو باوجود یو بل خوښوی.

ریښتي مینان دزړه له تله مهربان او تل په دې هڅه کې وي، چې دخپلی مینې ښه ساتنه وکړي.

ریښتنی مینان تر ډیره پر دې فکر کوی، چې خپل مقابل لوري په دقیقه توګه وپیژني.

ریښتي میه د ګیلو مانو پر ځای له خوښو ډکه وی.

ریښتنی مینه له اظطراب او خپګانه خوندي وي، یو لوي دلیل یې کلک او متقابل باور او یو بل ته تکیه جوړیدل وي.

ریښتي مېنان ددې پرځای چې له یو بله مالی ځانی توقعات ولري، په راتلونکې ګډ ژوند ،لارو، چارو، پلانونو او چمتوالي فکر کوی.

چمتو کوونکې ډاکټر عزتمند کامرانزی

## دننګرهار د عامي روغتیا ریاست اړوند امریت د روغتیایې علومو د انستیټوټ د امر دوکتور حبیب ا لله (فرهومند) سره مرکه

مرکه کوونکي: ډاکټر سمیع الله خاکسار



اوله پوښتنه: محترم امر صاحب که د هرڅه د مخه د ستوري مجلې درنو لوستونکو ته ځان ور وپیژني خوښ به شو.

اول جواب: زه دوکتور حبیب الله فرهومند ایم ډی ستوماتولوګ د ننګرهار د عامې روغتیا د روغتیایې علومو امر او د ننګرهار د غاښونو ډاکټرانو د اتحادیې رئیس یم.

دوهم پوښتنه: محترم امر صاحب که د زده کړو په باره کې معلومات راکړي.

دوهم جواب: زده کړي مې د غاښونو په برخه کې کړې او د ستوماتولوژي پوهنځی څخه فارغ یم.

دریمه پوښتنه محترم امر صاحب څومره موده کیږی چې د ننګرهار د عامې روغتیا د روغتیایی علومو امر په صفت دنده اجرا کوئ؟

دریم ځواب.ځلور کاله کیږی چې د ننګرهار ولایت د عامي روغتیا د روغتیایی علومو امر په صفت نده اجرا کووم

څلورمه پوښتنه: محترم امر صاحب د خصوصي روغتیایې علومو انستیتوتونو سره مو روابط څنګه دی؟

څلورم جواب: په ختیځ زون کې که دولتي دي که خصوصي ټول خپل برنامه د قانون مطابق عملي کوي او موږ د صحت عامې وزارت په لارښوونه هر وخت دوي له نژدې څخه څارو او الحمد لله روابطمو ښه دی کومه ستونزه نشته.

پنځمه پوښتنه: په ننګرهار کې تراوسه څومره طبی علومو انستیټیوټونه فعالیت کوی.؟

پنځم جواب: په ننګرهار ولایت کې یو دولتي او تقریباً یولس خصوصي روغتیایې مرکزونه فعالیت کوی چې د ځینو نومونه عبارت دي له.

امام غزالی د روغتیایي علومو انسټیټیوټ، ساینسي روغتیایې علومو انسټیټیوټ، لوی ننګرهار روغتیایې علومو انسټیټیوټ، الکوزی روغتیایې علومو انسټیټیوټ، غازی امان الله خان روغتیایې علومو انسټیټیوټ.

شپږمه پوښتنه: محترم امر صاحب څه علت دي چې دولتي او شخصي محل په زده کړي اکثره خلک اعتراض لري؟

شپږم جواب: دا چې تاسي ته بهتر معلومه ده چې فیسونه ډیر کم دی او محصل فیس نشی ورکولای نو ولي زیات امکانات برابرول یو په یو ستونزه ده بل دا چې نا سالم رقباتونه دي ددوي ترمنځ.

محترم امر صاحب که په اخر کې څه پیغام لري مهرباني!

د ستوري مجلي له طریقه په ټولو هېواد والو غړ کووم چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي ټول د جنګ جګړو څخه لاس واخلی او دوطن په ابادی کې یو موټی شي.

په پاي کې د ستوري مجلی همکار محترم ډاکټر سمیع الله خاکسار څخه مننه کوی چې زموږ پیغام یې هېوادو والو ته ورساوه

مننه د ستوري مجلی اداره له تاسي مننه کوي چې سره له دومره مصرفیتونو مو موږ ته وخت راکړه

په درنښت

**خبرتیا:**
**دستوري مجلې اداره له خپلو ټولو لوستونکیو څخه هیله کوي، چې د مجلې په هکله خپل وړاندیزونه او لیکنې د ادارې په پته راواستوي، تر څو موږ د لوستونکیو په وړاندیزونو د مجلې لکنې کره او بشپړې کړو . مننه**

# خاص کونړ ولسوالي په مقام کې د امنيتي چارواکو سره د ډاکتر سميع ا لله خاکسار ليدنه

اوله پوښتنه:محترم ولسوال صيب که د هر څه د مخه د ستوري مجلي درنو لوستونکو ته ځان معرفی کړی خوښ به شو.

جواب: مننه خاکسار صيب زه سيد زيور شاه سادات په کال 1358 هـ ش د سرکانو ولسوالۍ د پشت په سيمه کې د ساداتو په کورنۍ کې پيدا شوي يم او فعلاً د کونړ ولايت د خاص کنړ ولسوالۍ د ولسوال په صفت دنده اجرا کووم.

دوهمه پوښتنه: محترم ولسوال صاحب که د زده کړو په باره کې د ستوري مجلی درنو لوستونکو ته معلومات ورکړی خوښ به شوو؟

دوهم جواب: لومړنۍ زده کړي مې پاکستان کې کړی بيا مې دارالمعلين ولوست او ورسته بيا د اختصاصي کانکور له لاري د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو کې ماستري شروع کړي اوس هم جريان لري.

دريم پوښتنه: محترم ولسوال صاحب څومره موده کيږ ی چې د خاص کنړ ولسوالۍ د ولسوال په صفت دنده اجرا کوئ؟

دريم جواب: دوه کاله کيږی چې د خاص کنړ د ولسوال په توګه دنده اجرا کووم.

څلورمه پوښتنه:محترم ولسوال صاحب څه علت دی چې خاص کنړ ولسوالۍ امنيت په بشپړه توګه تامين دی؟

څلورم ځواب: خاکسار صيب دا چې دخاص کنړ ولسوالۍ يو تعليم يافته ولسوالي ده بل دا چې د خاص کنړ ولسوالۍ د ځوانانو رئيس او د کونړ پوهنتون استاد پوهنيار محمد رحيم خاکسار يو فعال شخصيت دی او په مجموع کې د خاص کونړ ټول ځوانان او قومی مشران په بشپړه توګه د زړه ورو امنيتی ځواکونو سره همکار دی نو همدا علت دی چې دا يو علم پروره ټولنه ده نو

زمونږ امنیت الحمد الله تامین دی او د خاص کنړ ولوسونه د حکومت بشپړ ملاتړ کوي.

پنځمه پوښتنه: ولسوال صاحب ولسونه ادعا کوي چې که هر څومره ظلم په چا وشي څوک چې مخکې عاریض شو حکومت ته هماغه بریا دی او فیصله نظر په عاریضه کیږي؟

پنځم ځواب: حکومت د ټولو دی زمونږ مسئولین موضوع څیړي او هرڅوک چې مجرم شي قانوني چلند ورسره کیږي.

شپږمه پوښتنه: محترم ولسوال صیب دخاص کنړ ولسوالۍ کې د پوهني بهیر په اړه که معلومات راکړی؟

شپږم ځواب: خاکسار صیب څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه د خاص کنړ ولسوالی د تعلیم له لحاظه یو تعلیم یافته ولسوالي ده او فراد په تعلیم سمبال دی.

اووم سوال: محترم ولسوال صیب که په اخر کې د ستوري مجلی درنو لوستونک ته پیاغم لری؟

اووم ځواب: هر څوک جې د ستوري مجله لولی باید یو بل ته لاس ورکړی ترڅو په ګډه دی دردیدلی ولس ته خوشحالی راوړی او خپل هیواد د ابادي لپاره په ګډه کار وکړی په پای کې ستوری مجلی د بنسټګر محترم نصیر ستوری د ستوری مجلی محترم مدیر عرفان کوټوال او په ننګرهار ولایت کې د ستوری مجلی د سیمه ایز دفتر مسئول ډاکټر سمیع ا الله خاکسار څخه خاص مننه کووم چې زمونږ پیغام یې تر ولس ورسوو.

د ستوری مجلي اداره له تاسی مننه کوی چې سره له دومره مصرفیتونو مو مونږ ته وخت راکړی.

## د واده څخه وروسته د ښځي او خاوند ژوند ولي په تاوتريخوالي بدليږي

لومړۍ ستونزه: «د دواړو ترمنځ د خوي او عدات نه پوهيدل»

له واده وروسته د دوه کسانو ترمنځ نوي ژوند او نوي اړيکه پليږي او بايد په ورځني چارو کې د يو بل په عادت پوشی، پدي وخت کې هلک او نجلۍ هغه کوي چې مقابل لوري ددي په خوي او عادت لاړشي او څه چې دي غواړي قبلو يې کړي.

لکه هلک غواړي ډيري خبري وکړي د خلکو سره ډيره راشه درشه وکړي د کورنۍ نورو غړو سره پراخه اړيکه ولري سګرټ وڅکوي او ديو چا په خبرو ژر باور وکړي او داسي نور خو د بلي خوا ميرمن کې داسي عادتونه ليدل کيږي چې له چاسره ډيري خبري کول نه غواړي په هر چا شک کوي له اړتيا پرته د کورنۍ له نورو غړو سره اړيکه نه پالي يا نه ساتي او داسي نور.

او همدارنګه په پورته بيلګو کې د ښځي او خاوند ترمنځ ټکر رامنځ ته کيږی او يو پر بل باندي انتقادونه شروع کيږی ښځه په مستقيم ډول خاوند ته نشي ويلي چې دغه کار زما نه خوښيږي بلکي د غيري مستقيمي لاري څخه ورنه استفاده کوي.

چې ددي ستونزي د حل لپاره لازمه ده چې دواړه خواوي د يو او بل عادتونو باندي قناعت ولري او دا قبوله کړي چې دغه عادتونه په يوه ورځ کې له منځه نشي تللي بلکي د دواړو له يو بل سره مشوره وکړي او هغه عادتونه چې زيان اړونکي ول لري کړي او کوم ضرر وي پر ځای پريږدي.

دوهمه ستونزه «شک او شبهات»

په ګډ ژوند کې شک کول تر ټولو زيان اړونکې عمل دی په ځانګړي توګه په ګډ ژوند کې له نارينه وو څخه زيات شک ښځې پر خپل خاوند کوي له واده وروسته ښځه او خاوند دواړه يو بل ته د شک په سترګو ګوري او د يو بل ځارل چې واده څخه وړاندي به يې له چاسره اړيکي نه وي نيولی.

او همدارنګه ښځه د خاوند ټولې ټليفوني مکالمې څاري پخواني عکسونه او اسناد يې څاري او دنورو نجونو څخه د خاوند په اړه پوښتنه کوي او داسي نور

او په مقابل کې سړي د خپلې ښځې په خبرو کې دیته متوجه وي چې په خبرو کې کوم کس ډیر یادوي د چا صفت کوي او کومې خواته تمایل لري.

کله کله خو حتی داسی هم کیږی چې د جنسي اړیکو په وخت کې ښځې یا خاوند ته داسي پوښتنه پیدا کیږي متقابل لري والې له جنسی اړیکو سره بلد دي ایا ددي لامل دادي چې له پخوا به یې له چاسره جنسي اړیکی ټینګې کړي وي.

ځینې وخت سترې ستومانه وي ولي نشی کولا ي چې مقابل لوري ته مینه ورکړی خبری ورسره وکړي او یاه هم ښه برخورد ورسره وکړي .

نو دوي داسي ګمان یو بل ته کوي چې نه یې خوښیږی او دیته ورته نوري بیلګي شته چې ښځه او خاوند ورسره مخامخ کیږی خو دواړه بیا د درک کړي چې کله دوي کوژده کوله د ښو معیارونو په بنا یې وکړي ، یعنې مثبت فکر وکړي او که چیري ستونزه ډیره جدي وه نو باید ډاکټر ته مراجعه وکړي.

دریمه ستونزه (جنسي اړیکی )

له حده زیاتي او یا له حده کم جنسی اړیکي د انسان لپاره ستونزه پیدا کوي په ځانګړې توګه کمي او کمزوری جنسي اړیکه انسان جنجال سره مخامخ کوي او نه یواځی چې مقابل لوري اړتیاوي نه پوره کوي بلکي دا شک رامنځ ته کوي چې شاید له بل چا سره جنسي اړیکي لري او ټوله انرژي بل چیرته مصرفوي.

ځکه چې د خاوند او د ښځې ترمنځ جنسی اړیکی نیول کیږی د جنسی اړیکي په وخت کې دیته نه پام کیږی چې شاید مقابل لوري جنسي کمزورتیا ولري بلکي له دی اړخه ورته ګوري چې شاید له بل چاسره جنسي اړیکي ولري.

ځلورمه ستونزه (له واده وړاندي ژمني)

په ځینو مختللو ټولنو کې له واده وړاندي دوه کسانو ترمنځ یو بل ته وعدي ورکول کیږی چې که چیری واده وکړو نو دغه ډول کارونه او عادتونه به پریږدې او یا هم داسي وعدي ورکول کیږی چې شخصي کور لري، موټر لري، دنده لري او داسي نور خو کله چې واده وشي هغه وعدي هسي یو ډول دوکه وي او بالاخره ترمنځ جنجال او اخ ډب رامنځ ته شي.

او په مقابل کې سړي د خپلې ښځې په خبرو کې دیته متوجه وي چې په خبرو کې کوم کس ډیر یادوي د چا صفت کوي او کومې خواته تمایل لري.

کله کله خو حتی داسی هم کیږی چې د جنسي اړیکو په وخت کې ښځې یا خاوند ته داسي پوښتنه پیدا کیږي متقابل لري والې له جنسی اړیکو سره بلد دي ایا ددي لامل دادي چې له پخوا به یې له چاسره جنسي اړیکی ټینګې کړې وي.

ځینې وخت سترې ستومانه وي ولې نشی کولا ی چې مقابل لوري ته مینه ورکړی خبری ورسره وکړي او یاه هم ښه برخورد ورسره وکړي .

نو دوي داسي ګمان یو بل ته کوي چې نه یې خوښیږی او دیته ورته نوري بیلګي شته چې ښځه او خاوند ورسره مخامخ کیږی خو دواړه بیا د درک کړي چې کله دوي کوږده کوله د ښو معیارونو په بنا یې وکړي ، یعنې مثبت فکر وکړي او که چیري ستونزه ډیره جدي وه نو باید ډاکټر ته مراجعه وکړي.

دریمه ستونزه (جنسي اړیکی)

له حده زیاتي او یا له حده کم جنسی اړیکي د انسان لپاره ستونزه پیدا کوي په ځانګړې توګه کمي او کمزوری جنسي اړیکه انسان جنجال سره مخامخ کوي او نه یواځې چې مقابل لوري اړتیاوي نه پوره کوي بلکي دا شک رامنځ ته کوي چې شاید له بل چا سره جنسي اړیکي لري او ټوله انرژي بل چیرته مصرفوي.

ځکه چې د خاوند او د ښځې ترمنځ جنسی اړیکی نیول کیږی د جنسی اړیکي په وخت کې دیته نه پام کیږی چې شاید مقابل لوري جنسي کمزورتیا ولري بلکي له دی اړخه ورته ګوري چې شاید له بل چاسره جنسي اړیکي ولري.

ځلورمه ستونزه (له واده وړاندي ژمني)

په ځینو مختللو ټولنو کې له واده وړاندي دوه کسانو ترمنځ یو بل ته وعدي ورکول کیږی چې که چیری واده وکړو نو دغه ډول کارونه او عادتونه به پریږدې او یا هم داسي وعدي ورکول کیږی چې شخصي کور لري، موټر لري، دنده لري او داسي نور خو کله چې واده وشي هغه وعدي هسي یو ډول دوکه وي او بالاخره ترمنځ جنجال او اخ ډب رامنځ ته شي.




ورک شـــه د ښار ژونـد یاره تل به په نهارا ګرځو
یـوه بـه کـار کـو ؟ لس ورځې بـه بیکـارا ګرځو
زمـا خـوښه نه ده ټول عمر پردیسي کې تېر کړو
پـوښتنه دا کـوم مـونږ څه کړو ؟څه لپاره ګرځو
چـې نشـته کـار نـه ده پکار چې لوفري وکـړو
کـــارونـه نشته لـه کـونږ تر کنـد هاره ګرځو
وســـالارزی ته یي ته منی زه د زړه له تله وایم
پخپـل اختیار کې نه یو مونږه بي اختیاره ګرځو
چـــې ضـرور نه وي له ټاټوبي وتل نه دي پکار
مـــونږه نادان یـو تر هلمنده تر مزاره ګرځو
مالـداري ډیـره نه ده ښه د غریبي نوم ورک شه
کـــه ډیر مالدار شو تـر لندنه پوري یاره ګرځو
سید نور

څـه نـاعـلاجـه زمـانه ده خلـک زړه خـرڅوي
د څـو روپـیو پـه بدل کـې سپینه خوله خرڅوي
نـوره نـړۍ د مـاشـومـانـو زړونه لاس کـې ساتـي
زمـونږ مـاشـومـان خوبیا اوبه او یا سابه خرڅوي
ازاد بـــازار دی نـــو سـړی بـه پکـې څـه ووایـي
څوک سپین او سره راوړي او څوک پکې واړه خرڅوي
زمـونـږه پیغلـې ډکـې سترګې ګرځوي له اوښکو
خـو ګـاونـډي پـه اعظـمي بیه رانجه خرڅوي
منـم سـاحله چـې غمـونه به یي په سر اخیستي
خـو باور وکـړه خلـک خـپل کورونه نه خرڅوي
بختیار ساحل

**خواته مې کښنه درته ګورمه چې ساعت مې تیر شي**
**زور مـې د زړه چـا کښېنولي د قیصو محتاج یم**

**د اوړو نه مې وریښمین تارونه لر کړه**
**په ما هسي هم د کور خلک شکیان دي**

# ستورو کاروان

د عشق په اور باندې سوځېږم څوک مي نشته
لکه شمع ویلي کیږم څوک مي نشته

غمازان راپسي ګرځي ډلې ډلې
کلی کور کې رسوا کیږم څوک مي نشته

بي تا په اور ژړیږم څوک مي نشته
دا اوس کاروان رقیب رانه لوټ کړه

نیمه لار کې پاتې کیږم څوک مي نشته
اې د سیند توپانې موجه پام کړه

ارمانجن سیند کې ډوبیږم څوک مي نشته
وچې شونډې مې د زړه حالونه وائي

د هجران په یاد ژړیږم څوک مي نشته
د جانان د غیر خوبونه لړ رایاد کړه

اوس په خاورو ویده کیږم څوک مي نشته
که نفرت ورته خپل خایم محبت رانه هیریږي

یابه ماته صبر راکړي یا جانان نه حسن واخلي
لیکوونکي سباوون ((مومند))

## پښتو

مکتوب به په پښتو وي او فرمان به په پښتو
صنم به په پښتو وي او جانان به په پښتو

راج به د پښتو وي او رواج به د پښتو
په ارګ کې وي لګیا ټول وزیران به په پښتو

ښوونځي کې به پښتو وي مدرسه کې به پښتو
تدریس به په وي امتحان به په پښتو

ملا به قیل و قال هم د پښتو په ژبه وايي
خطبه به په پښتو وي او بیان به په پښتو

پښتو به د نړۍ په کچه سیاله شي ملګرو
غربیړي به مو هر لوري مشران به په پښتو

حقیاره! چې کابل ته پښتني لښکري راشي
باور وکړه تهران کې وي اعلان به په پښتو

سمیع الله (حقیار

# ستورو کاروان

څه شي کې ثواب دی؟ پیره وروایه

ژوندمې ټول عذاب دی پیره وروایه

ماله میخانې ته تګ حرامه دی

ستاخوراک شراب دی پیره وروایه

ماته دې دوزخ اوجنت وښود

ستاکوم انتخاب دی؟ پیره وروایه

مینه ته رواکه ناروابولې

څه دې نوځواب دی؟ پیره وروایه

ګل ځواني اوښه مستي یې څنګه ده؟

څنګه یې شباب دی؟ پیره وروایه

داچې په بوسوبوسومړیږي نه

زړه خانه خراب دی پیره وروایه

نن چې دماموندنظرلړشوخ دی نو

کړي یې حجاب دی پیره وروایه

---

خداي به دی غرقه کي باران کښې دی بنګړي شړنګول

اذان شورو وو په اذان کې دی بنګړی شړنګول

ما پیښور کې اوریدل ماله خوب نه راتللو

د نیمی شپې چې په مردان کې دی بنګړی شړنګول

نزدي جمات کښې د ملا نه مسلی هیری شوي

تیره جمعه د کور دالان کې دی بنګړی شړنګول

ای د انکار نه پس دی خوند د سور او تال بیا نه وو

ته جوړ خفه وئ په خفګان کښې دی بنګړی شړنګول

پښتنی پیغلی خوصلی ته دی سلام پکار دی

چې د ژوندون په وران مکان کې دی بنګړی شړنګول

سترګي دي توری وی په زنه دی شین خال ایښی وو

خدای خبر نور د څه ارمان کښې دی بنګړی شړنګول

تاته خو غرونو هم نعری کړی چې صیاد دی نیشته

بیا ولی لاړی بیابان کې دی بنګړی شړنګول

صیاد شاهي

# ستورو کاروان

## عرفان الله کوټوال

خاندي راپسې او را روانه زمانه
زمونږ عمل ته ګوري ده حیرانه زمانه
کرل ریبل د ټولو په یوشان دي
په حاصیل د یوه تخم بدګمانه زمانه
دمیږي په ځغل روان یو مخ په پورته
هدف مو لرېوځي رانه لاړه زمانه
دا چې توري د تندي مو مهار شوې
په سرو لمبو مو وسوله ګلزاره زمانه
لاس نیولي د سبا په لور په یون یو
د جهل په تورتم کې ده ولاړه زمانه
که کوټوال یې هم تدبیر درسره بویه
په حکمت اسمانه ته وختله هوښیاره زمانه




راپسې ربه دا څه رقم دښمن دی
هم د ځمکې هم د مال هم مې د تن دی
زه په کور کې خپل ژوند په طغ ناست یم
ده نیولې مې په سرباندې کفن دی
زمونږ غوښې په خپل کور کې شیندل کیږي
ټولو ته له کور وړي لګن دی
زمونږ وینه بې ارزښه ده تویږي
د سره اور په شان په مونږ ګرم سکن دی
یو دقیقه په ارامه سا اخستې نشم
ژوبل ژوبل مې هر غړی دبدن دی
ځکه هر خوانه غونډارې راوریږي
هم بې مشره بې دولته مو وطن دی
مونږ محتاج یو همیشه نورو قومو ته
چې وطن مو بې کماله او بې فن دی
چې په یو تار یې ټړلی ټول دښمن و
هغه ځوان اوس تورو خاورو کې دفن دی
د هغوې په لاره هیڅوک روان نه شو
خو قدرت لپاره هر یو سړی من دی
شمس ورک شولو احساس د پښتو مونږ کې
ځکه پریښې مو مرغانو ته چمن دی

# ستورو کاروان

## غزل

زما د ژوند نه تللې خوشحالۍ پر له پسې

دا ستا غمونو کړلمه زندۍ پرله پسي

ما ویل چې لږ ویده شمه او غم مې شي غلط

ما ځکه به خوړې د خوب ګولۍ پر له پسي

هغې ویل چې ځمه درنه، لاړله پناه شوه

که هر څو ورته ومې کړې زارۍ پر له پسي

تا خپله لور رانه کړله او زه دې کړم بربا

الله خو دې برباده که تروری پر له پسي

په ویښه خو وېرېږمه، ځه دا خو مې عادت دي

په خوب کې هم وېرېږمه ابۍ پر له پسي

سمون سره دې څه وکړل چې داسې دې کړو خواري

الله خو دې تا خواره کړي جینۍ پر له پسي

یحي سمون

## غزل

کلي اباد ګودر ودان غرونه سمسور د وطن

په هر یو بڼ دمرغو شور دي نور راځه کلي ته

جومات ډېبه دېره ګودر چاي او چیلم د حجرې

وروره همدا دپښتو کور دي نور راځه کلي ته

د کولالي منګي او به لکه دواورې یخې

سور کتوري یې په سر سور دي نور راځه کلي ته

دپسرلي دژوند خوندونه په کې نورې مزې

صرف ستا جدایي راکړي زور دي نور راځه کلي ته

دنیمو شپو له پردي کټ نه خوب د ځمکې ښه دي

چا راته کړي دا پېغور دي نور راځه کلي ته

مینه بازار دسرو غوټیو لګېدلي په کې

دګلابونو پېر او پلور دي نور راځه کلي ته

دا تور او سور او شین بیرغ د افغانیت نښه ده

برم یې په ټوله نړۍ خور دي نور راځه کلي ته

خوالې نا خوالې دوروری په منځ کې کېږي خیر دي

په پردي کور کې ژوند سر تور دي نور راځه کلي ته

منم چې جنګ دې نه خوښېږي ترېنه سترې ښکارې

زړه مې ترې ستا په شانه تور دي نور راځه کلي ته

په خپل وطن سر ورکوو خپله مورچله ساتو

په مونږه یکې یو دا تور دي نور راځه کلي ته

که څوک دا وایي ستاسې کلي کې پردي څه کوي

نو دا پنجابي ګنې ستا ورور دي نور راځه کلي ته

ملاصیب! په کوم دلیل کومه فتوا او په کوم کتاب کې؟

دا ورور وژنه خو سور اور دي نور راځه کلي ته

که خداي کول هر څه به ښه شي امېدونه شته دي

وزر د سولې زر راخور دي نور راځه کلي ته

صادق له هر وطن ساتونکي او سرباز نه لوګي

اوس یې په متو کې ښه زور دي نور راځه کلي ته

# د معدي ښه او اسانه علاج

لیکوونکې ډاکټره خالده صافۍ

که تاسې د معدی تکلیف لری او یا هم خدای مه کړه د معدي په H.P اخته اوسئ نو د تازه نعنه (پودینه) څو پاڼې واخلئ اوپه اوبو کې ویشوئ او د دوه اونۍ لپاره هر سهار نیم ګلاس نوش جان کړئ انشاء الله ج په یو میاشت کې به مو مشکل حل او معده به مو د پخوا په شان فعاله شی که چیری بیا له تاسي سره د ویالي د غاړی نانه ( پودینه) شتون ونه لری کولای شئ په اسانه طریقه هم و کاروئ هغه دا چې کوشش وکړی د ورځې له خوا تر خوړو ورسته ژاوله وجوی او حد اقل هت ۳ لیتر مایعات وڅکئ دا هم د معدی په H.P تر ټولو موثر علاج دی که د غاښونو په زیړووالی او درد اخته یی که د غاښونو له درد او زیړ والی څخه رنځ وړی نو د ګلانو څزڅیرک واخلـــــــې او په دوه ګلاس اوبو کې ښه ویشوي . څزڅیرګ باید دومره ویشول شی چې له دوه ګلاس اوبه څخه نیم ګلاس پاتی شې. د څنځیرک ایشول شوی اوبه تر ایشیدو وروسته چاڼ او پریږدې چې سړې شې له همدي اوبو سره د ورځې دوه ځلې خپل غاښونه کولی (( غرغره)) کړی نو غاښونو درد به مو د تل لپاره ختم او تاسې به د ځلا لرونکو غاښونو خاوندان شئ.




د شکر ناروغۍ اسانه درملنه

که چیری خدای ج مه کړه شکر ناروغي ولري او علاج هم سرګدان کړی نو تر ټولو اسانه او لنډه طریقه وکاروي د تور بانجانو شنه بیضونه په اوبو کې ویشوئ او هر سهار یو ګیلاس تری و څکې انشاء الله د الله ج په فضل به صحت مند او بیرته شفایاب شئ.

نس ناسته (اسهال) ارزانه علاج

خدای ج مه کړه که چیری په نس ناسته (اسهال) تاسې او یا هم ستاسې کورني اخته وی نو یو ګیلاس خوږی مستی کې دری دانی کیلی ښه حل کړی او د ورځې په طول کې ۳ ځلی له دی څخه استفاده وکړی انشاء الله چې مشکل به حل او د مایعاتو له لاسه ورکولو حالت به مو کنترول شې او صحت مند به شئ

# د ډاکټر کبیر ستوري لیسي

## د پنځوسمې کلیزې د نمانځغونډې انځورنه















د کبیر ستوري لپاره د غني خان تأثرات

اي شــــهيده اي عاشقـــــه اي بـــچيه د منصور
په خندا جانان له لاړي ډوب درياب کې شـوي د نور
نادانان درپسی ژاړي ماشـومان درته مجنون وايې
ليونی درته پســــــــــــخيږي اي ايري د کوه طور
ننگياليه ســـر دی ورکړه د يار ښپو کې دی لوگي کړه
اوس يې گوره مســکۍ سترگۍ ښکلي ډکې د غرور
خو ما راوړي تا له نه دی د ســــــــرو گلو اميلونه
د جنت بلبـــــــلان څه کا د دنيا د بــــــاغ گلونه
تا کړي خپلی سترگي خاوري چې زما شي پري روښانه
تا قـــــيصه زما د درده بــــره يوړه تر اســــمانه
ستا د وينو څاڅکې څاڅکې چې تا توي کړو له ارمانه
ما ته ســـري ډيوي بـــليږي په کوڅه کې د جانانه
د دنيا تاجونه زار شــه ســتا له بـخته ستا له شــانه
د ليلا په زنگون پـروت يـې د مجنون خيري گريوانه
ما راوړي تا له نه دي د رامبـــيل چامبـــيل گلونه
دجنت بلبـــــلان څه کړي د دنيا د بـــــاغ گلونه

زړه د شګو کوره کې د رسمبال يې کړه سړيه
عقل پټه خزانه ده استعمال يې کړه سړيه
د ښار خلک دلشکن دي په وعدو به يې کړي مات
زړه شيشه ده شيشه لري کړه ديوال يې کړه سړيه
د ا قلم دی دا کتاب دی دا دخداي او رسول لار ده
دا بچي مکتب ته بوځه د کمال يې کړه سړيه
غرق ازل سره نور څه دي نه زړګي لري نه نوټ
يو موبايل لري دا ته واخله کنګال يې کړه سړيه
عقل پټه خزانه ده استعمال يې کړه سړيه

(ازل جي)







د ستوري مجلې د کونړ ولایت استازی

# د سید جمال الدین افغان پوهنتون د پښتو څانګې د نهمې دورې د فراغت په درشل کې











چا دي د خیر کچکول کې ښپه کیښوده
ما دې کچکول کې صدقـــــه کېښوده
چا دې شــــــمله د غرو ټیټه کړله
ما دې په ســـر بــــاندې کړه کېښوده
چا دي د پت پیغلي ســــــرتوري کړلې
ما یې په ســـر بـــــاندې پرده کېښوده
چا دي بـــــنا ســــترګي رندي کړلي
مـــا دي نظـــر تـــه انــــدازه کېښـــوده
چا دي پیغور راته میراث کې پرېښود
ما دي دننګ ســـره ســـیکه کیښوده
چا دي دا شاړي دښتي تولي بي معنا بللي
کوټوال د غرونو کارنامو ته فلسفه کیښوده

(ع . کوټوال)

# د مثبت او ستر فکر ګټې

لیکواله: ثریا مشفق

د مثبت فکر آغیزې د انسان په برې او روغتیاکې تر تصور او چټی دي

مونږ هغه نشان یو چې فکر کوو، که په فکر کې ځان لوی، مهم، شریف، پتمن، بریالی او مهم و ګڼو په ژوند کې همغسې کیږو له ځان سره مینه او ځانی درنښت یو غریزه ده البته که په توازن وساتل شي زمونږ د شخصیت له ودې مرسته کوي خو که انحراف وکړي په ځان غوښتنه بدلیږي باید انحراف ته پرې نه ښودل شي.

هر انسان مثبت او منفي اړخونه لري چا که یو بل اړخ قوی ښکاري.

که مونږ د دوی مثبتو اړخونه وڅیړوو او د هغوی په چوکاټ کې ورسره اړیکې جوړې کړو وبه ګورو چې اړیکې مو څومره پراخې او اغیزناکې شوې دي ښه فکر مثمر ملګرتوب لامل کیږي د مثبت په صورت به درڅخه د نورو لومړنۍ انګیرنه مثبته وي د مثبت وي د مثبت فکر شي مو په خیره او په اعمالو کې ښکاري نو هر څوک چې مو وګوري له ځان سره ستاسې ښه خاطره وړي.

مثبت فکر د ښه صحت لامل کیږي

د مثبت فکر وګړي تر منفي فکر ښه روغتیا لري اوږد عمر په څیره کې ښکلا او ځلا د زړه او روان له ځینو ناروغیو او د وینې لوړ فشار د مثبت فکر په زور ځانونه حلاصولې شي منفي فکر مو ناروغه کوی که ناروغ یاست ناروغی مد شدیدوی روحی ستونز پیدا کوی منفی فکر پخپله یوه ناروغی ده مثبت فکر د بدن معافیت هم پیاوړی کوی مثبت فکر انسان خپلو هیلو ته رسوی

مثبت فکر برې راولی:

په ژوند سلوک او اعمالو کې مو مثبت له مثبت فکر سره تړی دی او دغه مثبت بدلون تاسی د برې پر لور بیایی د سترس او خپګان ښه مقابله کولی شی مثبت فکر د برې انګیزه هم درکوی دغه جذبه د برې پر لور ستاسی د پرواز وزرونه دی مثبت فکر خو شبین دهشت جوړوی او ستونزې په فرصتونو بدلوی که که په یو بوتل اوبه تر نیمایي واچوی نو مثبت فکر وای چې بوتل نیم له اوبو ډک دی خو منفی فکر وای چې نیم بوتل لاهم تش دی مثبت فکر مو د ستونزو پر حل باور پیدا کولی ، مثبت فکر انسان همیشه تلاش کوی ولی منفی فکر د نورو نه هیله من وی منفی فکر انسان خپل ذهن په نورو تطبیقوی او د پور پاګند ذهن لرونکی وی او خراب تصورات په ذهن کې لری.

په خپل ژوند کې نعمتونه رایادولی شي:

که فکر مو مثبت وي هره ساه ، هر ګام، هر اندام، دکورنۍ غړي هر دوست ښه ملګری به درته د الله تعالی یو نعمت ښکاري او شخیت پوري اړه نه لري او یوازې زمونږ د فکر کولو په ډول پوري اړه لري بهرني پیښې په هغې کې لږ رول لرلی شي د بشر مغز کولای شي د دوزخ نه جنت اوله جنت نه دوزخ منځته رواړي.

ښکلا مو له داخله څلوي:

د مثبت فکر په صورت کې مو په څېره کې ښکلاوې او جذابه وي، بدن مو مو آرام او مخ مو غوړېدلی ښکاري، موسکا در په برخه کوي، چې پدې صورت کې هر چا خوښېږي.

د مثبت فکر په باب د مشفق لنډ نظر:

مثبت فکر وکړه چې ژوند ته دې خوښي راشي.

د مثبت فکر خاوند ته هره نوې ورځ نوې خوښي او ځواک زېږي‌و.

د ګلاب به بوټي کې له اغزو د شکایت پرځا د هغه د ګل ستاینه وکړه

د ښه فکر په ټاکلو کې مو په فکر کې مو ښه ځیزونه جوړېږي.

که پرمخي هم و غورځېږې یو ګام مو پرمخ واخیست

دمثبت د جوړولو یوه لار داده چې منفي فکرونه پرېږدو د منفي فکر کوونکي معمولاً دا څلور عادتونه دي.

اول: دښېګڼو په انبار کې کوچني او نه لیدونکي بدي لټوي.

دوهم: هره مسئله شخصي کوي.

دریم وړې خبرې ډېر لوی او خطرناکې ښيي او مسائل قطبي کوي.

څلورم: بس هر څه ددوی په نظر یا تور دي یا سپین ، یا خوارږه دي یا ترخه نور رنګونه او خوندونه نه پیژني او د هرنګ او خوند اهمیت ښکلا او ضرورت نه شي درک کولی.

مثبت فکر په دې معنا دی چې ژوند ته خوشبین او سو کار او فعالیت او دستونزو حل په ټیګ باور وروي د انګشو په کونج کې کیناستل او یوازې فکر کول مثبت فکر نه دی

د بشر د یو تن ژوند د هغه د ورځنیو فکرونو څخه جوړوی زمونږ ژوند زمونږ د فکرونو جوړ دی تاسی هغسی نه یاست چې ګومان کو بلکې هغسې یاست څنګه چې فکر کوئ.

# دادبي کره کتني موخه او غرض



احسان الله (احسان) حليمزي مومند
د ښوونې او روزنې پوهنځۍ د پښتو ادب څانګه

سریزه

په ادب پوهنه کې ادبې کره کتنه خپل ځانګړې ارزښت او اهمیت لري په ادبي مطالعاتو کې ورته ادبې کره کتنه په غور سره او ژوزه هر اړخیز کتنه ده چې حقایق را برسیره کوي که ادبي کره کتنه نه وایي د ادبي اثارو ارزښت به مو څنګه ښاکه؟(نه به ادیب لیکول او شاعر) په خپل ښه او بد پوه شوي وایي نه به لوستونکی تر پایه دادیب د اثر له اصلی پیغام او عرض نه په سمه توګه خبر شوس وایي دادواړه چارې کره کتونکې د کره کتنې په وسیله کوي

دادبي کره کتني موخه او غرض

ادبي کره کتنه په عام ډول د دوو سترو هدفونو او موخو لپاره کیږي.

لومړي دا چې ادب تشریح کړی او دویم ددی لپاره چې د ادبي اثر د خو او ناوړو کره پورې او نیمګړو برخو په هکله قضاوت او حکم وکړي

کله کله ادب پوهان دا خبره هم رامخې کړې ده چې د کرکتونکي یوارینۍ دنده د ادبي اثر تشریح ده فیصله باید پخپله لوستونکي وکړي یا دي هغه لوستونکي ته پریږدي ښه او پیاوړي کره کتونکي تل د یو ادبي اثر تشریح توضیح او تفسیر د خپل ذوق او شعور په مرسته کوي نو همدي ټکي ته په پاملرنه ویلي شو چي کره کتنه یو ډیر له

ستونزو ډک کار دی .ده کرکتني په پروسه کي ده کرکتونکي دنده دا ده چې ادبي اثر روح ته ورننوځي ، ښیګڼې او بدګڼي (د ښي او بدي خواوي) په ګوته کړي د ادب په افکارو او ادبي تجروبو باندې فکر وکړي داثر اصلي مفهوم تشریح :ښکلایزه او اخلاقي اړخونه يي وښايي په تیاره ګوټونو یي رڼا واچوي او د بیلابیلو اړخونو خپل منځني اړیکي څرګندي کړي د ادبي اثر د تشریح په وخت د اثر د پنځونکي ( رامنځ ته کونکي) مطالعه او تشریح خو ضروري ده او دغه ډول د لیکوال مقابله موازنه د نورو هم عصرو لیکوالو سره

او ترڅنګ یي په ادبي اثر د خپل عصر تاریخي او ټولنیزي اغیزي هم باید څرګندي شي

کره کتني په پروسه کې د کره کتونکي دنده داده چې د ادبي اثر روح ته ورننوزي.

ښګڼي او بد ګڼي ښی او بدي خواوې په ګوته کړي د ادیب په افکارو او ادبي تجروبو

باندې فکر وکړي د اثر مفهوم تشریح
ښکلایزه او اخلاقي اړخونه یې وښيي په
تیاره کوټونو یې رڼا واچوي او د بیلابیلو
اړخونو خپل منځني اړیکي څرګندي کړي

ادبي اثر د تشریح په وخت د اثر پنځوونکې
(رامنځته کوونکې) مطالعه او تشریح هم
ضرور ي ده دغه ډول د لیکوال مقابله او
موازنه د نورو هم عصرو لیکوالو سره او
ترڅنګ یې ادبي اثر د خپل عصر تاریخي
اوټولنیزو اغیزي هم باید څرګند شي ادبي
کره کتني د ګټو په اړه دا ویلې شو چې تر
ټولو ستره ګټه یې داده چې د وخت د ضایع
کیدو مخه ونیسي اوهغه ادبي اثر چې موږ
یې په ورځو ورځو نه شو لوستلي کره کتني
په څو مخونوکي ادبي اثر محتوا په روح او د
لیکوال په موخه پوهیدلې شو د بیلګې په
توګه هر کال زیات شمیر ادبي کتابونه چاپ
او خپریږي چې دا ټول تر لاسه کول او لوستل
زیات وخت او مالي لګښت غواړي موږ د کره
کتنو د لوستلو په مرسته کولي شو دغه ټولو
اثارو ارزښت او هدف ځانته معلوم کړو خو
داکره کتني دا ګټه هغه وخت اغیزمنه
تمامیداې شي چې کره کتوني ذهن او په خپل
مسلک کې د لوړو پوهي او استعداد خاوند
وي په دغه صورت کې هغه کولې شي د ادبي
اثر روح تشریح اوپر تیاره ګوټونو یې لازمه
رڼا واچوي

۲ ادب پوهنه (۵۹-۶۰)مخ

د ادبي ارزښت ټاکنې کې کره کتني ته ډیره
زیاته اړتیا لیدل کیږي خو کله کله موږ ګورو
د کره کتونکي ددغه محاکمې په لړکي تر
لاسه شوي پایلې او نتیجي نیمګړې او د ډاډ
وړ نه وي نو ځکه زیاتره وخت کره کتنې ته د
شک په سترګه کتل کیږي

موږ ګورو چې ډیری وخت یو کره کتونکې یو
ادیب (شاعریا لیکوال)په اړه یو ښه یابده (د
خپل ذاتي غرض له مخي)رایه یا نظر قایموي
بل کره کتونکي راولا ړیږي د هغه دغه نظر یا
رایه ردوی په دغه حالت کې لوستونکي
حیرانیږي چي په دوي کې د چاخبره ومني.

د کره کتني ددي ډول طریقي مطلب دادی چي
کره کتونکی د یو دیانتداره او قاضي په ښه
عمل او پریکړه نه ده کړي بلکي هغه د خپل
دوست د وکیل دنده سرته رسولي ده نو له
همدي امله یې پریکړه د باور او منلو وړ نه ده
د پایلي په توګه ویلائ شو چی کره کتونکي
د خپل ذاتي غرض مینه والۍ ذوق او
غوښتني له مخي د کره کتني چاره ترسره
کړې ده نه د کومو علمي او تحقیقي
معیارونو له مخي.

دلته ددي خبري یادونه هم اړینه ده چي د یو
لیکوال یا شاعر د تخلیق یا ادبي اثر په اړه د
عوامو خوښوني هم باید د باور او ډاډ

ورېسرچينې په توګه ونه ګڼل شي ځکه چي دعوامو ذوقونه زياتره وروسته پاتې وي هغوي تفريحي شيان او مسايل ډېر خوښوي نو د تخليق معياري اوتل پاتي ارزښتونه نه شي درک کولاۍ يا په بله وينا نه پيژني

دپايلي په توګه به ووايو چې د ادبي کره کتني اصلي او بنسټيزه موخه او دنده يو ادبي د ژورې مطالعې په لړ کې هغې توضيح او تشريح کول او دغسې د اثر د منځ پانګي په اصلی روح د اثر ليکوال يا پنځوونکي په پيغام او ادبي اثر د رامنځته کولو په غرض د لوستونکو پوهول او د يو لړ ټاکلو اصلو او معيارونو په رڼاکي يي ادبي ښکلاوي ښګڼې بدګڼې (عيبونه) ياپه بله وينا نيمګړتياوې او کمزورتياوې بيانول او لوستونکو ته د اثر هر اړخيز د ليکوال فکر غرض په اغيزمنه توګه ښودل دي (۳-۱۴-۱۳مخ)ادبي کره کتنه

لنډيز

ادبي کرکتنه په عام ډول د دووسترو هدفونو او موخو لپاره کيږی.

لومړي دا چي ادب تشريح کړي او دويم ددي لپاره چی دا ادبي اثر د خواو ناوړو کره پوره او نيمګړو برخو په هکله قضاوت او حکم وکړي.

کله کله ادب پوهانو دا خبره رامخي ته کړي ده چي د کرکتونکي يوازينۍ دنده د ادبي اثر تشريح ده فيصله بايد پخپله لوستونکی وکړي يا دي هغه لوستونکي ته پريږدي

ښه او پياوړی کره کتونکي تل د يوه ادبي اثر تشريح توضيح او تفسير د خپل ذوق او شعور په مرسته کوي

داثر اصلي مفهوم د تشريح ښکلايزه اړخونه يي وښايي

د ادبي کره کتني د ګټو په اړه دا ويل شوي چي تر ټولو ستره ګټه يي دا ده چې د وخت ضايع کيدو مخه نيسي

هغه ادبي اثر چې موږ يي په ورځو ورځو نشولوستلی د کرکتني په ځو مخونو کې ادبي د محتوا په روح او د ليکوال په موخه پوهيدلی شو

ما خذونه


۱سر محقق سيد محي الدين هاشمي ۱۳۹۴ادب پوهنه ميهن خپرندويه ټولنه

۲ سر مخقق سيد الدين هاشمي ۱۳۹۵ ليکوالي هنر ميهن خپرندويه ټولنه

۳ سر مخقق سيد الدين هاشمي ۱۳۹۵ ادبي کره کتنه ميهن خپرندويه ټولنه

# د اروښاد ډاکټر کبیر ستوري ژوند او سبک پېژندنه



لیک: سید زیور شاه سادات ،

مخکې له دې چې اړوند موضوع ته داخل شم لازم ګنم چې لومړی کبیر ستوری دروپیژنم ډاکټر کبیر ستوری د لعل محمد زوی او دمیرزامحمدجان لمسی ؤ په (۱۹۴۲) زیږدیز کال ګران هیواد افغانستان په کونړ ولایت په خاص کونړولسوالۍ کې د تنر په کلي کې زږیدلی دی د هغه نیکه میرزامحمدجان چې پلار یې حلیم نومیده نوموړی چې په اصل کې د پشد د کلي اوسیدونکی ؤ او چې یاد کلی پخوا هم د خاص کونړمربوط ؤ خو اوس د پشد تاریخي کلی د سرکانو ولسوالۍ مربوط دی نیکه یې ترې په ( ) کال کې د خاص کونړ د تنر کلي ته راکډه شوي دي دا چې میرزامحمدجان په یادو کلیو کې د پخوا راهیسي مشران او ډیر شهرت یې درلود جرګې او مرکې به ئی کولي او د کلي مشري به ئی کوله ډاکټر کبیرستوري کورنۍ د یوسفزو قوم ترلی او په وړه کې د

میردادخیلو په نوم شهرت لرې چې په خټه اصلي پښتانه دي نوموړي دوه وروڼه او شپږ خویندو نازولی ورور ؤ نوموړی د وړکتوب څخه ډیر ځیرک او هوښیار ؤ کله چې نوموړی د دروازي بیرون قدم کینبود لومړی قدم یې د خپل کلي د مسجد په دروازه ورننوت او دیني

زده کړي یې د ملافقیرمحمد استاد شخه وکړي او دویم قدم یې دخاص کونړ د ابتدایه ښوونځي ورننوت د وړکتوب نه یې کتابونو سره مینه درلوده او یاد ښوونځي شخه په ښو نمرو بریالی او د ثانوي زده کړو لپاره کابل ته ولاړ او درحمان بابا په لیسه کې زده کړې پیل کړی پردغه مهال په کابل او په ټول هیواد کې د پښتنو دوه لیسي موجودي وې او بله لیسه دخوشحال خان بابا لیسه وه کله چې نوموړی (۱۹٦۴) زیږدیز کال کې د رحمان بابا لیسي شخه په لوړو نمرو فارغ شو د افغان حکومت لخوا د عالي زده کړو لپاره المان هیواد ته لاړ او په المان کې فرانکفورت پوهنتون کې د سیاسي علومو ،فلسفي او ساه پوهنه باندې پیل وکړ.

نوموړي چې پښتو او پښتونوالي سره یې ډېره مینه درلوده د پښتنو محصلینو او روشن فرکانو سره یې اړیکې پاللې او په لنډه موده کې همدغلته د (Afghan Student Association) په نوم بنیاد کېښود او په لومړي ځل یې خواره او مسافر افغانان د یو بیرغ لاندې راټول کړل داد ستوري لومړی شعوري او سیاسي ګام ؤ چې کېښود د یاد بنیاد دپرمختګ ترڅنګ یې د یوبل تنظیم (Jenrel Union of Afghan Student) مسري په غاړه وخیسته او ورځ تر بلې یې مینوال زیاتیده او په (۱۹۷۳) زیږدیز کال کې د المان غږ راډیو پښتو څانګه کې دنده واخیسته او نوموړي د پښتو قامي وجود نشتوالی احساس کړ او د حضرت باچا خان او اجمل خان خټک د افکارو مطالعه یې پیل کړه دې نتیجې ته ورسید چې د پښتو شاته پاتې کیدل د مشرانو بې اتفاقې ده د پوهنتون په دوره کې په دې فکر ؤ چې د پښتنو محصلینو ترڅنګ د نورو پښتنو سره هم اړیکې وپالې او هڅه یې کوله چې د پښتنو لپاره یو ځانګړی ګوند جوړ کړي تر څو د پښتنو غږ ټولې نړۍ ته ورسوي چې د (Pashto on Social Democratic Party) پښتون سوشل ډیموکراتیک پارټي په نوم یې ګوند جوړ کړ چې په دې کې د لر او بر پښتنو مشرانو نظر ته احترام کیده اود پښتو اود پښتنو د پرمختګ لپاره یې کار کاوه ستوری ښه شاعر هم ؤ ډاکټر کبیر ستوري پښتو لپاره ژړا کوله اود شاعرۍ ډیره برخه یې هم دي ته ځانګړي وه.نوموړي د لیسي په دوره کې شعرونه وئیل او لیکل چې په هغه وخت کې یې دده د شاعرۍ ډیره برخه د خپل ځان اود ټولګیوالو لپاره

محدوده وه په (۱۹۷٦) زیرډیز کال کې نیشنل لیډریشن اف پښتون اینډ بلوچ په نوم یې ټولنه په فرانکفورت کې جوړه کړه په (۱۹۸۵) کال کې په جرمني کې کلچرل سوسي یشن د پښتو کلتوري ټولنه ئي جوړه کړه، په (۱۹۹۸) کې د پښتونخوا د پوهنې دیره ، په (۱۹۹۹) د پښتون کوراو او په (۲۰۰۳) کې د پښتو ادبي ټولنه په کونړ کې جوړه کړه.په (۱۹۸۲) کال کې په پیښور کې بندي شو ډاکټر کبیر ستوري ډیر کتابونه لیکلي چې یو څو نموني یې را اخلو ددې ترڅنګ یې مجلې هم چلولې دي

۱ -سکروټه : (شعري ټولګه) کال (۱۹۷٦)،جرمني.

۲ -پښتونخوا: (د مضامینو ټولګه) کال (۱۹۷۷) ،جرمني

۳ -وېره: (یوه علمي اونفسیاتي څېړنه)کال ( ۱۹۸۵-۱۹۹۰ ) جرمني.

۴ -هوښیارتیا د کلتوري بنو تله (علمي او نفسیاتي څېړنه)کال ۱۹۸۵ جرمني

۵ -د وېرې تله (ساپوهنه) کال ۱۹۸۵ ،جرمني

٦ -ژوندي خیالونه(شعري ټولګه) کال ۱۹۹۷ (پېښور،پښتونخوا)

۷ -دقلم توره: کال ۱۹۹۹ ،پېښور،پښتونخوا

۸ -د هوښیارتیا تله : (ساپوهنه) کال ۲۰۰۰ ،پېښور،پښتونخوا

۹ -ژبساپوهنه: (ساپوهنه) کال ۲۰۰۰ ، پېښور،پښتونخوا

۱۰ -سندریز پیغام (شعري ټولګه) کال ۲۰۰۲، پېښور،پښتونخوا

۱۱ -د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله (ساپوهنه) کال ۲۰۰۴، پېښور،پښتونخوا

۱۲ -د پیداېښتي بنو دهوښیارتیا تله (ساپوهنه) کال ۲۰۰۴، پېښور،پښتونخوا

۱۳ -خوږې مسرۍ (شعري ټولګه) کال ۲۰۰٦ (د ستوري صیب وفات نه څو ورځې وروسته چاپ شو)د شعرونو یو بیلګه یې

که زما ستوري په قبر چیري راشي

په پښتو راته دعا کړه پري مين يم

ډاکټر کبیر ستوری نرم مزاج او د ښو اخلاقو څښتن ؤ دروند پښتون او سخي شخصیت ؤ ډاکټر کبیرستوري د پښتو او پښتونولۍ سره بې کچې مینه درلوده د ډاکټر کبیر ستوري سبک د یو ځانګړي پښتني قومي یوالي سبک دی سیک د هر شخص ځانګړی وي اود نومړي شخص د لیکلو او وئیلو څخه معلومیږي چې د ستوري صاحب مبارزه د پښتو لپاره وه اود پښتو سره یې مینه په نثر او اشعارو کې جوتیږي چې ټول ټینګار یې د پښتون قوم اود پښتو لپاره دی چې موږ یې د نثر اوشعر څو بیلګي را اخلو چې ښه به روښانه شي.

په پښتني برخه کې چې نومړي د پښتو او پښتونوالي لپاره د څو نهادونو بنیاد ایښې دی لکه د پښتنو کلتوري ټولنه چې د پښتنو د حیا ساتلو اود پرمختګ لپاره پکې کار کیده، د پښتو ادبي هنري ټولنه او او ټولې لیکنې یې په پښتو کلتوري شکل دي لکه د پښتو جرګو په هکله په خپله په (۱۹۹۸) کال کې په وخت روځپاڼه کې د پښتونالي ترسرلیک لاندې په یوه مقاله کې داسي لیکي پښتونولي د جرګو یو ولسي سیستم دی چې د دیموکراتیک(جمهوري) خوی لرې جرګه کیدای شي چې د یوې کورنۍ،کلي ،سیمې، قبیلې او قام په سویه راشې دقام په سویه جرګې ته لویه جرګه وایې خو دا جرګې د یوبل پوري تړلي نه دي موقتې،عارضي،غیرې مرکزي او خپلواکه ښه لري.

دجرګې راغوښتل اوجرګې جوړویدو سربیره جرګه لیږل هم په پښتو کې رواج دی چاته چې جرګه ولیږل شي مخ او خاطر یې کوي او د ډیر څه نه ورته تیریږي پښتوالي پوخ نظرپاتي او فلسفي بنسټ لري چې په لاندې دري لړونو ولاړي دي

۱ -پښتو: یواځې د پښتو ژبه نه ده بلکې د یوشمیر صفتونو مجموعه ده لکه پت ، ننګ ،ښیګڼه،توره ،میړانه او داسي نور دا صفتونه په هر پښتون کې که موړوي او که غریب باید چې ویې لري پښتون بابا خوشحال خان خټک هم داخبره تائیده وي او وایې

درست پښتون د قندهاره تر اټکه

سره یو دننګ په کار پټ او شکار

۲ـ دودونه او نرخونه : لکه روغه ،ناغه ، ننواتي ،سوله او داسي نور.

۳ -پیغور: د پیغور په واسطه د پښتنو د پښتنو د پښتو صفتونه په پوښتنه کې اچول کیږي چې د پښتو د تهذیب او کلچر ښه خویونه پکې نغښتي دي پښتو ویل او پښتو کول دواړه سره نغښتي دي لکه څه ښه وایې.

تاچې رنګ د پښتونوالي عشق ته ورکړو - پښتنه مینه مي لاپسي توده شوه

همدغه راز د لري پښتونخوا د پښتو منلی سیاستوال او ادیب اجمل خټک د کبیرستوري په باب په (۱۳۹۷/۲/۱۸) نیټه د ډاکټر کبیرستوري ژوندي خیالونه، په تیارو کې ځلانده ستوري ترسرلیک لاندې په یومقاله کې داسي وایې المختصر زموږ د مسافر ستوري د کلام ژوندي خیالونه په پښتو ژبه ، د پښتني وینې او مینې د پښتو دننې او پروني زخمونو او سباني ارمانونو او پښتو او پښتونوالي د ژوند او مستقبل پسرلي وږمي دي دلته د شعرونه ضرور لیکم چې د خوشحال بابا نه واخله د فخر افغان بابا او تر ستوري پور د هنر ننګیالي د مشر او کشرپښتون ارمان دي

داستوری د پښتون د خپلواکۍ هلکه روڼ شي

چې واړه پښتانه په یو مرکز ټول شي جرګه شي

.

ډاګټر کبیر ستوری د پیژندګلوي محتاج نه دی نژدي ملګري او دوستان یې د پښتني خوی او بوی څخه پیژني د قلم خاوندان اولیکوالان یې په سوچه پښتو ژبه د خپریدونکو کتابونو،مجلو ،ورځپاڼو او نورو خپریدونکو لیکنو څخه پیژندلی شي د پښتني سیاست په ډګر کې همدغه ستوری په ټوله پښتونخوا کې ځلیږي.

د پښتون ډاکټر کبیرستوري دخپل شعر په هنداره کې داسي ښکاري لکه چې د پښتونه پرته بل کوم سوچ کول ورته بلکل بي معنی ښکاري وایې

پښتو ته خدای پیداکړم پښتونواله مي ژوندون دی

د ژوندون په سوکالي که مي سر لاړ شي لاړ دې شي

نوموړی مشر دخپل ژوندون په ټول مزل کې د پښتو کلتور په خاپونو پسي له خپل ځانه ورک ورک ګرځي

۳ -پیغور: د پیغور په واسطه د پښتنو د پښتنو د پښتو صفتونه په پوښتنه کې اچول کیږي چې د پښتو د تهذیب او کلچر ښه خویونه پکې نغښتي دي پښتو ویل او پښتو کول دواړه سره نغښتي دي لکه څه ښه وایې.

تاچې رنګ د پښتونوالي عشق ته ورکړو – پښتنه مینه مي لاپسي توده شوه

همدغه راز د لري پښتونخوا د پښتو منلی سیاستوال او ادیب اجمل ختک د کبیرستوري په باب په (۱۳۹۷/۲/۱۸) نیټه د ډاکټر کبیرستوري ژوندي خیالونه، په تیارو کې ځلانده ستوري ترسرلیک لاندې په یومقاله کې داسي وایې المختصر زموږ د مسافر ستوري د کلام ژوندي خیالونه په پښتو ژبه ، د پښتني وینې او مینې د پښتو دنني او پروني زخمونو او سباني ارمانونو او پښتو او پښتونوالي د ژوند او مستقبل پسرلي وږمي دي دلته د شعرونه ضرور لیکم چې د خوشحال بابا نه واخله د فخر افغان بابا او تر ستوري پور د هنر ننګيالي د مشر او کشرپښتون ارمان دي

داستوری د پښتون د خپلواکۍ هلکه روڼ شي

چې واړه پښتانه په یو مرکز ټول شي جرګه شي
.

ډاګټر کبیر ستوری د پیژندګلوي محتاج نه دی نژدي ملګري او دوستان یې د پښتني خوی او بوی څخه پیژني د قلم خاوندان اولیکوالان یې په سوچه پښتو ژبه د خپریدونکو کتابونو،مجلو ،ورځپاڼو او نورو خپریدونکو لیکنو څخه پیژندلی شي د پښتني سیاست په ډګر کې همدغه ستوری په ټوله پښتوخوا کې ځلیږي.

د پښتون ډاکټر کبیرستوري دخپل شعر په هنداره کې داسي ښکاري لکه چې د پښتونه پرته بل کوم سوچ کول ورته بلکل بي معنی ښکاري وایې

پښتو ته خدای پیداکړم پښتونواله مي ژوندون دی

د ژوندون په سوکالي که مي سر لاړ شي لاړ دې شي

نوموړی مشر دخپل ژوندون په ټول مزل کې د پښتو کلتور په خاپونو پسي له خپل ځانه ورک ورک ګرځي

ستوری پښتو پښتونوالي دساز په نغمو کې نغاړي

د رباب ټنگ پسي د ټول ملت حجري لټوي.

بل ځای کې وايې

دوخت دا تقاضا ده ستوری وایې دابه کیږي

نقشه کې دنړۍ د پښتونخوا نوم لیکل کیږي.

لنډه داچې کبیر ستوری د سرنه تر پښو پوري ټول پښتون ؤ او تر ټول غوره کار یې دادی چې په ډیرو نثرونو او شعرونو کې سوچه پښتو الفاظ کارولي.

د اروښاد ستوري صیب په سبک کې د یوالي نښې

ترهڅه لومړی د ژوند په ډگر کې مبارزه د پښتو دیوالي په فکر پیل کړي چې د فرانکفورت کې د افغان سټوډینټزس د سوسی یشن بنیادیې کینبود،د پښتودیوالي لپاره په المان غږ راډیو کې کارکول ، دبلوڅو او پښتنوازاده تولنه جوړول او دلري پښتونخوا د سیاسي مشرانو سره اړیکي قوي کول د پښتو دیوالي لپاره د مبارزي هڅه ده. په پښتونخوا کې اتلس میاشتي بندي کیدل چې د نوموړي په نثر او شعر څخه به ورته پام وکړو او د لیکوالانو او قلم خاوندانو له نظریاتو به یې ښه ثابته کړو.ډاکټر کبیر ستور په پیښور کې د پښتون قامي جرگي دوه ورځني سیمنار ته په یوه وېناه کې داسي او وئیلي په نړۍ کې ډیر ویشل شوی قامونه سره بیرته یو شول خو پښتانه لا هماغسي ویشلي پراته دي چې د خان لالا په قول منفي اغیزي نه یوازي په پښتون قام بلکې په ټوله منطقه کړي دي خو پښتون قام ددي منفي اغیزو جوت احساس نه لري زه دي موضوع ته د ځغلنده یې کتني په خواکې د پښتون قامي وحدت لاره راپه گوته کوم.

پښتون د ویش منفي اغیزو احساس:

زماپه اند د پښتنو دویش د منفي اغیزو د جوت احساس د کموالي علت د پښتون ولس اود پښتون سیاسي واکمنو په تضاد کې پروت دی لندا داچې پښتانه په سیاسي اقتدار پاتي شوي دي خو کلتور یې ځپل شوی د پښتون قامي وحدت لاره

وحدت یایوالی فلسفي بنسټ ته نږدي والی دی دال داچې پښتانه په افغانستان او پاکستان کې

اوسیږي ددي دواړو هیوادونو ترمنځ د ژوند په ټولو برخو کې ګډکار او نږدیوالي د یوالي په خدمت کې دی. په عمل کې د افغانستان د جګړې راهیسي ددي دواړو هیوادونو د پښتنو ترمنځ نیږدیوالی منځ ته راغلی دی خپلوۍ شوي او دوستۍ جوړي شوي دي لیدني او کتني یې عامي شوي او پښتانه دوه کوره شوی دي په نورو تورو سره د پښتون قامي وحدت لړۍ (پروسې) په ګټه وده کړي ټلوالي ختمې شوي چې د پښتون ویش ئې غښتلی کوه او همدغسي د نړۍ تخنیکي ودې د ّمکې تنابونه رالنډکړي دي د جغرفیایې پولو اهمیت کم شوي او دقامي پولې راښکاره کیږي د نړیوالي ودې د پړاو د جګوبلانیشن په نامه یادیږي په دي پړاو کې هیڅ یو هیواد په ځانګړي توګه وده او ترقي کولي نه شي په اوسني وخت کې افغانستان او پاکستان پښتنو اوسیدونکو ته د ډبل تابیعت یاشهریت امکان ورکول اوهم غیر د کاغذونو د تګ او راتګ او تجارت ازادي مهمه ده پښتون په سیمه کې پنځوس میلونه قام او د ثبات ځواک دی د پښتون قومی وحدت نه یوازي د پښتون قام او منطقي په ګټه دی بلکې د ټولي نړۍ په ګټه دی.

لایق زاده لایق- میاشتنۍ لیکوال پنځمه ګڼه چې (2004) د عملي مبارزي ترسلیک لاندې مقاله کې لیکي د سپرغۍ په نامه یوه مجله جاري ده چې زیاته برخه یې د قام پرست مشرخان عبدالغفار خان د افکارو وه او سمدلاسه یې بله مجله د لمبې په نوم پیل کړه چې د پښتون قام د ولس د جذبو ترجمان وه چې څنګ په څنګ دا تاوده فکرونه خپریدل نو د ستوري غږ ژوندموند.

کله چې ستوری پیښور ته راغی د پاکستان مزدوري اداري لخوا د قام پرسته مشران نیول کیده ستوری هم پکې ونیول شو چې خپل دریځ بدل کړي خو ستوري په خپلو وهلو سودا ونه کړه او په خپل دریځ لکه د غر کلک ولاړ ؤ په ستوري مقدمه وچلیده او اتلس میاشتي زندان وروسته د قومي مشرانو د پریښودو په مهال نوموړی هم ازاد شو او بیایې د خپل قام لپاره مبارزه پیل کړه.

د ډاکټر کبیر ستوري په کلیات نوي کتاب کې قوم لپاره یوالي

چې د قام مینه لرلي چا په زړه کې - هغه خلک دي وختونو قدرولي

د ټولي نړۍ په ګټه دي او په منطقه کې د دیموکراسۍ د ودې امن،سوکالۍ او ابادۍ لپاره ضروري دي ددي هدف لپاره ټول پښتون یوې ولسي عوامي دایمي جرګې جوړولو ته اړتیا لیدل کیږي چې دیوې خوا په پښتونو واکمنو زورراولي چې د پښتون برخه خوري نو پښتونوالي مخکې کړي او دبلي خوا په ولسي سویه د ژوند په ټولو برخو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د نږدیوالي هڅه وکړي.

ډاکټر کبیر ستوری د پښتون سوشل ډیموکراتیک پارټۍ مشر یو شعر

لاردیووالي دې په نښه کاندې – که د ژوند ناوې راویستل غواړي

کور زموږ واک یې پردی دی دا ترخو به وي ترکومه

غیرته څه شو چې خپلواکه او خپل حقونه د پیداکړي

فبریل ورځپانه
حیات عالم د ستوري سره په (2003) نومبر کې مرکه کړي
دوی لا طالب العلم ؤ چې په رش اف جرمني کې به یې د پښتو ځانګې د منېجرایډیټر په حیث یې کار کاوه دوې جمهوري ذهن قام پرست نظریات لرل شعري هم کوي ترکومی چې د شاعرۍ خبره ده نو د دوې په ذریعه زه دخپل قام سره د میني اظهار کوم.

محمدافضل خان خان لالا د قام پرست مشر او پخوانی وفاقي وزیر میاشتنۍ لیکوال پنځمه ګڼه (2006) دمی د وحدت ستوري ترسر لیک لاندې په یوه مقاله کې لیکي ستوری دانه چې په المان کې دقامي وحدت د حصول لپاره افغانان راغونډ کړي ؤ بلکې په لر او بر کې دهغه نظر په هغه ټولو مشرانو پریوتی ؤ چاچې دقامي وحدت حصول خپل د ژوند مرام ګرځولی د.

ستوریه ستا دهیلو او امید غوټۍ غوړیږي
جوړ به د قامي وحدت سازونه سرودونه شي
د نوموړي اروښاد ډاکټر کبیر ستوري د نثر او اشعارو او د ژوند د مبارزي لیکوالانو او دقلم خاوندانو او دفکر څښتنو سیاستوالو څرګندولو راته جوته کیږي چې د نوموړي سبک ته یو ځانګړي پښتنې قام یوالي مبارز سبک نوم ورکوم.

ماخذونه
لایق زاده لایق ډاکټر کبیر ستوری ژوند او مبارزه د پښتونخوا د پوهني دېره – پېښور ۲۰۰۷ م
وحدت ورځپانه ۱۹۹۸
اجمل ختک د ډاکټرکبیرستوري ژوندي خیالونه ۱۳۹۷ پښتونخوا
لایق زاده لایق لیکوال پینځمه ګڼه ۲۰۰۴ پېښور

# ژور خفګان یا Dip ration



ژور خفګان هغه ته وايي، چې یو شخص د دوه هفتو څخه زیات په خفګان اخته وي. د داسې ناروغي ده ، چې په هر عمر او ټولو خلکو کې لیدل کیږي مګر د نارینه و په نسبت ښځې پرې ډیرې اخته کېږي.

## د ژور خفګان علایم

ژور خفګان بېلا بېل علایم لري، چې دلته يې له دریو څخه یادونه کوو.

لومړی په احساساتو کې تغیر: په احساساتو کې ستونزې ځینې نښې لري لکه نه ارزښت: هغه څوک چې په ژور خفګان اخته وي ځان ورته بې ارزښته ښکاري، د ستړیا احساس کوي، یا داسې احساس کوي، چې حافظه يې کار نکوي، زیاتره وخت د ګناه احساس کوي، بدبیني ورته پېدا کېږي، پوچ او بې مفهومه فکرونه ورته پېدا کېږي، د غمجنۍ احساس کوي اګر چې هیڅ هم موجود نه وي، اظطراب لري او تاوتریخوالی کوی.

دویم په فکر کولو کې ستونزې: په فکر کې ستونزې هم ځینې نښې لري کله د فرد شوق او علاقه له منځه ځي، د هېریدلو ستونزه ورته پیدا کیږي، تصمیم نیولو کې ستونزه ورته پیدا کیږي، انزوا غوره کوي...

دریم جسمي ستونزې هغه شخص چې په ژور خفګان اخته شوی وي ځینې جسمي ستونزې هم لری لکه د خوب ستونزې لري، سر درد لري، ځینې پټ دردونه لري، دغاړې درد ، په هاضمې سیستم کې ستونزه لري ، په خوراک کې ستونزه لري، په میرمن کې دمیاشتنې عادت تغیر او دوخت څخه زیاتېدل، دوینې ضایع کېدل، په نارینه وو کې جنسی غوښتنې کمیږی او همدا ډول ځینې اندیښنې ورته پېدا کیږی.

دلته یوه خبره لازمي ده چې اکثره د رواني امراضو درمل جنسی قوه راکموی خو د موقت وخت لپاره کله چې درمل خلاص شي ستونزه حل کېږي؛ نو دا راکمیدل له هغه پورته سره توپیر لري.

## د ژور خفگان حالتونه

1ـ کم خفگان: د Dip ration یو ساده حالت دي لکه د یوې پېښې په لیدو خفگان چې په ښځو کې دغه حالت ډېر لیدل کیږي، د مثال په توگه ښځه په کور کې یو څه غمجنه کیږي خو یو واده یا د پلار کورته په تگ سره هر څه له منځه ځي او عادي حالت ته راځي.

2ـ متوسط خفگان د Dip rationهغه حالت دی، چې د ځینو دارو درملو له امله رامنځ ته کیږي یا د ځینو کورنیو جنجالونو له امله رامنځ ته کیږی.

3ـ شدید خفگان: د Dip ration هغه حالت دی ، چې شخص پکې اپلتې وایي او غلط وهم ورته پیدا کیږي، تاو تریخوالی کوي، نورو ته زیان رسوي، وژنې پکې رامنځته کیږي ځانه وژنه یا د نورو وژل.

## د ژور خفگان یا Dip rationزیانونه

د ژور خگفان زیانونه په لاندې ډول خلاص کوو:

- ❖ د حقارت احساس او د خپل ځان په هکله د شخص منفي ذهنيت پکې لیدل کیږي.
- ❖ که ښځې په Dip ration اخته وي د حامله کیدو مخنوي یې کوي.
- ❖ وجود پکې ډنگر او شخص خپل وزن له لاسه ورکوی
- ❖ ځیني اشخاص پکې په جاغښت اخته کیږي
- ❖ په Dip ratonاخته کس د معدې په زخم ، د معدې په ستونزو، شکر ناروغۍ، مغزي ستونزو د فشار په ستونزو او د زړه په سکتو اخته کیږي.
- ❖ به Dip rationاخته کسان د پرمختگ مخنیوی کوي او هیڅکله پرمختگ نشي زغملي.
- ❖ په نشه اي توکو اخته کیږی په شدیدو حالاتو کې ځان وژنه هم رامنځ ته کیږي.

## د ژور خګفان یا Dip ration عوامل

په مجموع کې د رواني امراضو عامل نه دي معلوم، خو د ژور خفګان په اړه د درې عمده لاملونو یادونه کولی شو چې د دغې ستونزې د رامنځ ته کیدو سبب ګرځي.

1- جسمي عومل: دغه عوامل ارثي او جنټکي اړخ لري، ځینې درمل ددې سبب کیدلی شي مونږ په Dip rationاخته کړي لکه د خوب او زکام دواګانې، د مخدره توکو استعمال هم په ژور خفګان داخته کیدو عامل دی، ددې ترڅنګ د بدن په ځین غدواتو کې اختلا د Dip rationد رامنځ ته کیدو باعث ګرځي.

2- رواني عوامل: رواني عوامل ډې زیات دي خوځینې یې د نمونې په ډول ذکر کوو، لکه هېجانات، ویرې، و اضطراب، شخصیتي ستونزې د مثال په ډول په نورو ډېر متکي اشخاص، د قانون زیات پابند، ماته خوړل هغه څه دي، چې کولای شي مونږ په رواني ستونزو اخته کړي.

3- ټولنیزعوامل: ځینې ټولنیز عوامل هم د Dip ration سبب ګرځي، لکه مهاجرت، د دندې او موقف له لاسه ورکول، اوږد مهاله اقتصادي ستونزې، کورنۍ جنجال.

ځینې اشخاصو کې موسمي Dip ration هم وي یعنې کیدای شي یو کس په Dip ration اخته وي خو د موسم په تیریدلو سره ختم شي.

د ژور خفګان یا Dip ration حل لارې (درملنه)

د ژور خفګان د حل بیلا بیلې لارې شتون لري، دلته به یوځې هغه لارې په لنډ ډول وپېژنو چې ددغې ستونزې په له منځه وړلو کې مه رول لري.

دوا: د دوا په وسیله کولای شو، چې د Dip ration مخنیوی وکړو خو دوا ځینې جانبي عوارض لری لکه جنسي ضعف رامنځ ته کوي خو دغه ستونزه د اندېښنې وړ نده ځکه، چې موقتي ده او د وخت په تیرېدو سره بېرته ښه کېږي.

دیني درملنه: د ژور خفګان په حل کې دیني درملنه هم لوي اغېز لري، په دین او عیده باندې پابندي کولا شي ژور خفګان ستونزه حل کړي، دقرانکریم لوستل سړی ته روحي سکون بښي د Dip ration په له منځه وړلو کې ستر اغېزی لري.

# لنډه کیسه

لیکوال: غلام سخي (صاحبزاده)
راټولوونکې: سرښونکي عتیق الله (زهیر)

وو نه ؤ په پخوا زمانو کښې یو بادشاه ؤ چې د بادشاه نوم خدای دوست وو د خپل ملک بادشاهي یې کوله یو ورځ ورته یو ملنګ راغلو او ورته ویې ویل چې بادشاه سلامت قربان دي شم څه کیږي چې یوه ورځ ددي ملک د بادشاهي واګي زما په لاس کښې راکړي او زه پري بادشاهي وکړم خدای دوست پادشاه د ملنګ خبره ومنله او یوه ورځ یې ورته بادشاهي پریښوده سبا ته بادشاه خپل محل ته راغي ګوري چې ملنګ ناست دی ملنګ ورته وایي چې قربان دې شم د بادشاهي خوند ډیر دی که یوه هفته وخت نور راکړې ښه به وي خدای دوست بادشاه د ملنګ خبره ومنله بیرته خپل کور ته ولاړ ملنګ خپله بادشاهی کوله هفه وروسته بادشاه راغلو نو ملنګ چې ټول عمر په نااميدۍ تیر کړي ؤ او د بادشاهي او د واک اختیار خوند یې نه ؤ لیدلي ډیر خوښ ؤ نو بادشاه ته یې وویل قربان دې شم که بادشاهي راته ټول عمر پریږدي یو احسان به دې را باندې تر قیامته وي بادشاه د ملنګ خبره ومنله اوملنګ ته یې بادشاهي پریښوده کور ته ولاړ او میرمنې او دوه زامنو ته یې وویل چې ددي وطن څخه بل خواته ځو بادشاهي مي یو ملنګ ته پریښوده میرمن یې او دوه زامنو سره د بل ملک په تکل روان شو مزل یې شروع کړ د شپو او ورځو په تیریدو سره یې خپل مزل کاوه یوه شپه یو ځاي ته ورسیدو چې دښته وه وړاندې ددوي څخه یو خیمه وه نور هیڅ نه ؤ د شپې یو وخت کښې ددوي خواته یو سړي راغلو خدای دوست باچا ته یې وویل وروره په هغه خیمه کي اوسیږم او میرمن مي په اولاد مریضه ده څه کیږي چې ستا میرمن زما سره ولاړه شي او د هغې سره د اولاد په زیږون کې مرسته وکړي نو خدای دوست بادشاه یې خبره ومنله او میرمن یې ورسره لاړه شپه تیره شوه سهار رڼا ولږیده ګوري چې په دښته کښې هیڅ نه معلومیږي او خیمه هم نشته

د بادشاهي څخه خو ملنګ خلاص کړو او د ښځې څخه دغه نا اشنا سړي .خپل مزل ته یې ادامه ورکړه د ډیر مزل وروسته یې یو سیند مخي ته راغلو فکر کښې شو ددي سیند څخه د زامنو سره څنګه تیر شي ، نو یو ځوي یې د سیند څخه تیر کړ دوهم ځوي پسې چې راغلو نو دا ځوي یې چې نیمایي ته ورساوه دا ځوي یې ترې اوبو یوړ او هغه بل ځوي چې مخکې یې د اوبو څخه تیر کړي ؤ یو وحشي لیوه راغي هغه ځوي ترې لیوه وتښتاوه

خدای دوست بادشاه د سیند څخه تیر شو او هغه ځاي چې یې په نظر کې وو ورسیده هلته یې ځان میشت کړ ددغه ملک بادشاه مړ شوی ؤ خلک د بل بادشاه په لټه کي ؤ یو څه امتحان یې هم درلوده خدای دوست بادشاه چي د بادشاهۍ په اصولو پوهیدو په دغه ازموینه کې یې ګډون وکړ او په پایله کې د ملک د بادشاهې ګټونکي

اعلان شو وخت تیریدو او خپله بادشاهي یي کوله یو سوداګر چې ددغه ملک ټولې اړتیاوي یي پوره کولې او ډیر شتمن ؤ د بادشاهي په دربار کې یي لوړ مقام درلوده بادشاه یو وخت خپلو نوکرانو ته وویل چې ماته دوه ښایسته ځوانان پیدا کړئ چې ډیر ښایسته وي او شکلونو کې هم سره ورته وي نوکران به ګرځیدل بادشاه ته به یي خلکان راوستل خو په دغې زیات شمیر کې یي خوښ نه شول نو یو نوکر وویل چې دلته یو ماهیګر دی ډیر ښایسته ځوي یي دی زه به هغه راولم بل نوکر وویل زموږ کلي کې یو ښکارې دي دهغه ځوی ډیر ښکلي ځوان دی زه به هغه راولم . نوکرانو بله ورځ د خدای دوست بادشاه په حضور کې دواړه ځوانان حاضر کړل بادشاه ددې ځوانانو په لیدلو ډیر خوښ شو او په خپل دربار او محل کې ورته خاص ځای ورکړ دا چې خدای دوست بادشاه ورسره زیاته مینه کوله اعتماد او باور یي ورځ تر بلې زیاتیده او د خپلو زامنو چې څنګه د یو پلار سره ښایي شفقت یي ورسره کاوه نه پوهیده چې موږ څوک یو و

هر وخت بادشاه دغه لوی تجار (سوداګر) ته دعوت ورکاوه چې نن شپه زما سره پاتې شه ساعت به مو تیر شي خو سوداګر به یوه او بله بهانه کوله خو یوه ورځ یي ورته وویل چې څه مشکل لري سوداګر وویل کور مي ځانته دی کور کې نور څوک نلرم بادشاه ورته وویل چې زه به ستا کور ته خپل دوه اعتمادي ساتوونکي درولیږم او ډیره ښه ساتنه به یي وکړي سوداګر ته چې بله بهانه نشوه نو د بادشاه غوښتنه یي ومنله او د بادشاه سره پاتې شو او دغه ځوانان یي د سوداګر کور ته د پهرې ( ساتني) لپاره ولیږل دا چې شپه اوږده او ساتوونکو پهره کوله نو خپل منځ کې د کیسو او د ژوند خوږو ترخو خاطرو په ویلو یي شروع وکړه د سوداګر ښځه هم ویښه وه ویریده چې څه ونشي او هم یی ددې دوه ساتوونکو خبرو ته غوږ کیښوده یو ځوان کیسه شروع کړه چې پلار مي د یو ملک بادشاه ؤ بیا یي بادشاهي یو ملنګ ته پریښوده د مور واقعه یي هم ولوسته بیا د سیند څخه مي پلار تیر کړم لیوه یوړوم یو ښکاری تري خلاص کړم نو دې بل چیغې کړې چې ستا ورور یم د سوداګر ښځې چې ددې ځوانانو خبرې واوریدې رامنډې کړې ورته ویی ویل چې زه ستاسو مور یم او شپه یي ټوله په کیسو تیره کړه په کیسو کیسو کې ویده شوي وو مور یي منځ کې یو ځوي یي یو خوا او بل ځوي یي ترې بل خوا ویده وو او تر ډیره وخته ویده پاتې شوي ؤ سوداګر چې کورته راغی ګوري چې ښځه منځ کې او ځوانان یي دواړه اړخونو ته ویده دي سوداګر بیرته لاړ او بادشاه ته یي وویل چې افرین ستا په اعتمادي کسانو چې زما کورته دې لیږلي ؤ بادشاه په ډیر قهر سره د سوداګر کورته لاړ همدغه حالت کې چې سوداګر لیدلي ؤ ریښیا ؤ بادشاه توره د تیکي راوویسته پدې وخت کې ښځه راویښه شوه او بادشاه ته یي وویل چې نانا ګزار ونکړې دا زما زامن دي پدې وخت کې دواړه ورونه هم راویښ شو او ټوله کیسه یي بادشاه ته وکړه بادشاه حیران شو او چیغې یي کړې چې تاسو زما زامن یي سوداګر یي ونیوه او د خپل جرم په سزا یي ورساوه

# فعل او د هغې ډولونه

عرفان الله (ننګیال)

کړ (فعل): هغه کلمه ده چې له درې ګونو زمانو څخه په یو زمانه کې د یوه کار کول او پیښېدل راوښيي.

فعل د وینا ډېره ارزښتمنه برخه ده بې له هغې څخه د جملې معنا نه بشپړیږي.

فعل کله هم په یوازي ډول د یو جملي مفهوم افاده کوي.

لکه: څم، ګوري، اخلو، اغوندو او نور...

فعلونه د زمانې له مخې په درې ډوله دي:

د حال زمانې فعل:

هغه کلمه ده چې د یو کار کول په حال یا جاري زمانه کې څرګند کړي.

لکه: زه کتاب لولم، دی ډوډۍ خوري، هغه تا ګوري، احمد درس وایي، مور خاندو، هغه راغي.

د اتېري زمانې فعلونه:

هغه فعلونه دي چې یوکار کول په تېره زمانه کې وښیي

لکه: تا هلک ووهه، ما ډوډۍ خوړلې ده، هغه درس لوستلی وو، احمد پرون تللی وو، هلکانو غوزان وخوړل، ما درس لوسته، چې دې راغي، مور ډوډې پخه کړې وه.

د راتلونکي زمانې فعلونه: هغه فعلونه دي چې کار کول په راتلونکې زمانه کې راښکاره کړي.

لکه: زه به بریالی شم، ته به کور ته لاړ شې. سپوږمي به خط ولیکي، سږ کال به سوکالي وي، که ورښت ودریده ته به راشې!

د تېر مهال فعلونه د تېر مهال یا ماضي فعلونه: هغه فعلونه چې په تېره زمانه کې د کار پیښندل وښيي. لکه: ما ډوډۍ خوړلې وه، تا خط لیکلي وو.

د تېر مهال فعلونه دا لاندې ډولونه لري:

مطلقه ماضي: چې یو کار مطلقا په تېره زمانه کې راښيي. لکه: ازموینه یې واخیسته. هلک یې پرون وواهه، دوي ولمبل

استمراري تېره زمانه: چې د فعل دوام یا بهیر اوس مهال پوري وښيي: لکه: هلک یې واهه. ازموینه یې اخیسته، خط لیکه

نږدې تېره زمانه: هغه چې اوس مهال ته نږدې وي. لکه: مالیدلي دی. منه یې خوړلې ده. خط یې لیکلي دی

لرې ماضي: چې له اوس مهال څخه لرې وي. لکه: مقاله یې لیکلې وه. دوی لمبلی وو ما لیدلي وو

شکي ماضي: چې يو کار په تېره زمانه کې له شک او ترديد سره وښيي .لکه :ډودۍ به يي خوړلې وي ، تا به ليدلي وي ، هلک به يي ډبولي وي

فعل د بڼې او شکل له مخې دا لاندې ډولونه لري

لومړي: د فعل اخباري بڼه :هغه فعلونه دي چې کار کول يا کېدل په کې د خبر په ډول وښودل شي . لکه :ګلالۍ په ازموينه کې بريالۍ شوه .بريالي خط وليکه ، د نورستان پخواني نوم کافرستان وو

دويم : د فعل امري بڼه : هغه فعلونه دي چې کار په کې د امر اوفرمان په ډول وښودل شي .

لکه : دلته راشه ! او زما خبره واوره . هلکه ! ورته ووايه چې اوس مه راځه . زما کتاب مه راوړه

دريم :د فعل شکي بڼه : هغه فعلونه چې د کار د شک په ډول وښي . لکه :تا به ډوډوۍ خوړلې وي ؟ ګوندې سباته ورښت ووريږي . ته به زما يو ښه ملګرى شي؟

څلورم : د فعل شرطي بڼه : هغه فعلونه دي چې کار له يو شرط سره وښودل شي لکه: که درس ووايي بريالي به شي .که وختي له خوبه پاځېږې ، هر کار به تر سره شي . که ته راغلې هغه خامخا وينې.

پنځم :د فعل تمنايي بڼه : هغه فعلونه دي چې کار پکې د هغې او غوښتنې په بڼه وښودل شي .لکه :کاشکې ما استاذ ليدلي وايي ، هيله کوم تليفون کې راسره خبري وکړه ، کاشکې مونږ ټول بريالي شو .....

## د ادب موخه

### ادب دوه موخې لري :

**۱: ادب د ادب لپاره هغه دا چې ادب انسان ته روحي آرامتيا او خوښی وربښي**

**۲: ادب د ژوند لپاره په دې معنا چې ادب انسان ته د ژوند کولو طرزاو طريقه ښايې، په خبرو او عمل کې يې د تير وتنو څخه ژغوري.**

## نصيحت

**مې چې کله په خوړو کې ورګډ شي يا ځان وژني او يا خړ سترګې د خوړو څخه شړل کيږي نو خبره مې دا کوله چې هيڅکله د چا په خوږژوند کې مداخله مه کوه، ځکه وخت مو حتماً خجالته کوي، ددې لپاره چې نه د چا خوږژوند ورتريخ کړئ او نه ځان سپک کړئ ښه ده چې ارامه او بې ضرره اوسئ.**

# د سید جمال الدین افغان پوهنتون کې پښتو ژبې ته د چوپړ بهیر.

لیکنه: عرفان الله (کوټوال)



د سید جمال الدین افغان پوهنتون په دایره کې د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانګه چې 1392 لمریز کال څخه را پدیخوا ټولنې ته د پښتو ژبې د تدریس، ادبي او فرهنګي غنا، علمي او څیړنیزو موخو ته د رسیدو په برخه کې کدرونه، او ځوانه نېرو وړاندې کوي، چې اته دورې فارغان یې وړاندي کړي او نهمه دوره فارغان یې ټولنې ته د چوپړ لپاره د چمتو کیدو په حال کې ده د پښتو ژبې د علمي او فنی زده کړي سربیره د دغې څانګې زده کړیالان د مشاعرو، چاپې خدمتونو او ادبې ناستو پر مټ د وخت د اړتیا اړوند پښتو ژبې ته د چوپړ یوه ستره ونډه لري، چې پکې د نظم او نثر په فورمونو، لغوي غنا، او تحقیقاتي بحثونه کیږی، دغه چوپر د سید جمال الدین افغان پوهنتون د پښتو څانګې ډیپارټمنټ د زیار کښو او درنو استادانو لخوا پرمخ وړل کیږی د ستوري اداره د دغه شان خدمتونو او په ځانګړي توګه سید جمال الدین افغان پوهنتون د پښتو څانګې ډیپارټمنټ د زیارونو او زحمتونو قدرداني کوي او مننه تري کوي چې د رسمي نصاب(کریکولم) سربیره زده کړیالانو ته د ادبي ناستو او پروګرامونو موقع برابروي.

ښاد او اباد دي وي د یو موټي او امن لرونکي هېواد د پرمختګ په هیله

# کور وداني او مننه

## تر علمي او کلتوري فعالیتونو پورې

په یو علم باندې یواځې وخت تیریدل د هغه د پرمختګ سبب نه ګرځي بلکې د هغه د زیار کښو لارویانو هڅې خیرې او علم پالو او کلتور پالو خلکو کړنې او فعالیتونه پرمختګ ته لاره هواره وي دا خبره مې ځکه وکړه چې زما له کیسي سره اړیکه لري هغه داسي وه چې له نن څخه تقریباً کال وړاندې د ملګرو سره خاص کنړ ولسوالۍ ته تللي ووم د ډاکټر کبیر ستوري ښوونځي په لیدولو سره خبره په اروابناد ډاکټر صاحب را څرخیده د یو ادیب او لیکوال په څېره کې خو ما هغه د یو اراوه پوه په حیث پیژنده د ډاکټر کبیر ستوري له نوم سره زه لا د ښوونځي دوري څخه اشنا ووم خو له لیکنو سره یې په 1389 کال کې بلد شووم د خاص کنړ له تګ څخه به اونۍ نه وه تیره زه د اروا پوهنې ځانګه کې ناست ووم او د اروابناد ستوري یو کتاب مې مطالعه کوو چې د تاریخ او جغرافیه ځانګې استاد عباد ا لله عامر راننوت د کتاب له لیدو سره یې سم وویل چې د ستوري صیب زوي نصیر ستوري کنړ ته راغلي خو ما هغه ته وویل چې زه غواړم ورسره ووینم موږ لا په دې خبرو کې وو چې چا وویل هغه نن پوهنتون ته راغلي وو خو بیرته تللي دي موږ له کوټوال صیب سره ټلیفوني اړیکه ونیوله چې غواړو له نصیر ستوري سره وګورو سره له دې چې هغوی له والي عبد الستار میرزکوال سره د ولایت مقام ته روان



د اروا پوهنې ډیپارټمنټ آمر استاد
پوهنیار اسد الله کلیوال

وو، خو کور یې ودان چې زموږ له ټلیفون سره سم هغه په خپله زموږ لیدلو ته پوهنتو ته راغلي له ښاغلي نصیر ستوري سره زموږ لیدل ډیر په زړه پوري وو تر روغبړ ورسته زموږ ډیري خبري د خداي بخلي ډاکټر صاحب په هکله وي په خبرو خبرو کې زه د نصیر ستوري له کلتوري فعالیتونو او هڅو څخه خبر شووم په تلو کې هغه د ډاکټر صاحب د چاپ شوو اثر د یو یو ټوک د رالیږلو وویل خو له موږ سره د څه نورو خبرو وروسته د کتابونو د الماری جوړه ولو سربیره د اروا پوهنې علم اړوند د نورو ډیرو کتابونو ژمنه هم وکړه له ژمنې سره سم د ده ښاغلي په مالی مرسته د یادې ځانګې د کتابتون لپاره دوه الماری جوړې شوي او د اروا پوهنې علم اړوند په لسګونه ټوکه کتابونه به هم د هغه مرسته په نږدې راتلونکي کې راورسیږي.

موږ د فرهنګپاله ځوان د ښاغلي نصیر ستوري د هغه د دې اخلاص له امله مننه کوو. د یو مجهز کتابتون شتو په ځانګړې ډول د اروا پوهنې ځانګې له زده کړیالانو سره د هغوی د مسلکي

پوهې د زیاتیدو، څیړنو ،لیکنو... برخو کې مرسته کوي

د ستوري صیب د ي کور ودان وي.

په نړۍ کې د علوم د مزل په 1257 ل لمریز کال اروا پوهنه هم له دي کاروان سره مله شوه او تر نن پوري خپل په دي کم عمر کې یې چې په سختۍ سره یو 150 کلونو ته رسیږي د نړۍ ګوټ ګوټ ته ځان ورسوو په دي کلونو کې ارواه پوهنه د مختلفو هېوادونو په پوهنتونو کې د علمي او تخصصي څانګو په بڼه رامنځته شته چې ګران هېواد افغانستان هم د هغو له ډلي څخه وو. د وخت له غوښتنو سره سم په 1393 ل کال کې دغه څانګه د سید جمال الدین افغان پوهنتو کې هم ایجاد شوه او په کار یې پیل وکړه. په دي بهیر کې تر اوسه پوري دی څانګي دري دوري په اسلامي ملي، روحیه مسلکي پوهه او اخلاقي ارزښتونو سمبال ځوانان هیواد او خلکو ته د خدمت په موخه وړاندي کړي دي او دوه سوه تنو په شاو خوا کې زده کړیالان په خپلو زده کړو بوخت دي او دا چاره به روانه وي انشاء الله د ښوونیز او روزنیز مرکزونه به د خپلي ودي او پرمختګ لپاره د علمي څیړنو او تدریسي کارونو او هڅو ترڅنګ د ولسونو ټولنو او پوهانو علماوو فرهنګپالو ځوانانو مدني ټولنو او ټولنیزو نهادونو ښکیلو غاړو یعني (ذیدخل ادارو)

ملاتړ ته هم اړتیا لري. چې له نیکه مرغه موږ او تاسو په ډیرو مواردو کې د دغه ډول ملاتړ شاهدان یو. د ټولنیز هوسایني لپاره ګډ کار ته اړتیا ده او ګډ کار یو بل سره د مرستي پرته بل څه نه دي.



د ارواه پوهنې ډیپارټمنټ استاد
پوهنیار حمید ا لله حمید



د ارواه پوهنې ډیپارټمنټ استاد
پوهنیار عبد الرحمن عابد

# یوه کوچنۍ قیصه د لوی اخلاقي درس سره



ژباړونکې: انجینر عمران (شریفي)

دا کوچنی قیصه ولولی ممکن تاسو کی یو لوی بدلون راوړی.

فروپیسر ( استاد) د ساعت پیل کولو په وخت ورسره لاس کی گلاس چی یو څه اوبه پکی وی، شاگردانو ته یی اوپل چی گلاس ته اوگوری او بیا یی پوښتنه ترینه وکړه تاسو څه فکر کوی د دی گلاس وزن به څومره وی؟.

۵۰ ملی گرامه، ۱۰۰ ملی گرامه..... ۱۲۵ ملی گرامه..
یو شاگرد ورته ځواب ورکړو.

یو شاگرد ویل زه نه پوهېږم تر څو چی یی ونتلم.. استاد اویل زما اصل پوښتنه داده ؛ که زه دا گلاس د څو د قیقو لپاره لاس کی همداس جگ ونیسم نو څه به وشی؟

شاگرد اویل هیڅ به هم ونشی.

استاد هو کي: او که چیرته یی همداسی تر یو ساعته ونیسم نو څه به وشی؟

یو شاگرد اویل ستاسو لاس به په درد کولو پیل وکړی.

استاد تا سم اویل گرانه شاگرده؛ که چیرته دا گلاس ټوله ورځ لاس کی همداسی ونیسم نو څه به پیښ شی؟

شاگرد :ستلسو مټ به بی حسه شی؛ کیدای شی تاسو سخت د عضلاتو فشار او فلج ولری او تر څو ډاډ حاصل کړی روغتون ته ولاړ شی.

او یو بل شاگرد مسکی او ټول شاگردان یی وخندول

استاد ډیر ښه ایا پدی ټولو حالاتو کښی د گلاس وزن تغیر شو؟ د ټولو ځواب وو نا نوو تغیر شوی.

استاو نو بیا څه شی د لاس د درت او د عضلاتو د فیشار لامل شو؟.
زدکونکی ټول حیران شوی وول.
استاد پوښته وکړه نو وس زه څه وکړم تر څو د درد نه خلاص شم؟
یو زدکونکی ورته ویل گیلاس خکته کیږده.
استاد اویل هم بلکل!
د ژوند مشکلات همدا شان دی.
که لگ وخت یی په یاد ولری کومه خبره نشته. که د اوگدی مودی لپاره پری سوچ وکړی درد منځ ته راوړی

او که تر لا زیاتی مودی پری فکر وکړی ممکن تا فلج او د ټولو کارونو ځنی دی وغورځوی.

هو دا مهمه ده چی په خپل ژوند کی ننگونو او ستونزو ته فکر وکړی، خو ډیره مهمه دا ده چی د ورځی په پایی کی مخکی لدی چی خوب ته لاړشی ټولی ننگونی او مشکلات خکته کیږدی...

په همدی طریقه ته به د فشار د لاندی نه یی، ته به هره ورځ له خوبه تازه او قوی پورته کیږی او هر قسمه موصوع او ننگونی چی مخی ته دی راځی په ښه طریقه سمبال کړی.

نتیجه

په یاد ولری نن چی مو ورځ شروع کوی گلاس مو لاندی ایخی وی

# نبوي ملغلرې


رسول الله صلی الله علیه
وسلم فرمایلي:
بنده خپل رب تعالی ته تر
ټولو زیات د سجدې په وخت
کې نږدې وي له دې امله
تاسو په سجده کې ډېرې
دعاګانې غواړئ...


حدیث شریف
رسو الله صلی الله علیه وسلم فرمایي
د کوم کور دروازې چې د خپلوانو پرمخ
بندې وي او په کوم کور کې چې د شپې
ناوخته ویده کېدل او سهار ناوخته پورته
کېدل عادت وي هغه کور کې د رزق تګې
او بې برکتي وي
رواه مسلم ٦٥٧٤


حضرت جندب ابن عبدالله (رض)نه روایت دی
چې رسول الله (ص) فرمایلي دي.
یوه سړي قسم وخوړ اوویې ویل:
والله فلانی به الله تعالیٰ ونه بخښي
الله تعالیٰ وفرمایل:
داڅوک دی چې په ماقسم خوري
چې فلانی به نه بخښم
هغه مې وبخښلو اوستااعمال مې
باطل کړه، دثواب نه محروم شوې.
(مسلم)


د نبی کریم (ﷺ)څخه پوښتنه وشوه
چې یا رسول الله . ایا په جنت کې خوب شته؟
نبی کریم (ﷺ) ورته وفرمایل
چې خوب د مرګ ورور دی یعنی خوب د مرګ
سره ختم شي او جنتیان خوب نه لري.
( رواه الألباني )حدیث نمبر 187.
( و رَوَاهُ الطَّبَرَانِي فِي الأَوْسَط )


کوم کار چې د الله ﷻ د رضا لپاره کوئ،
په هغه کې له انسانانو مه ډاریږئ،
«لقمان حکیم رحمة الله علیه»

# کرونا ناروغۍ مخنیوي په خاطر احتیاطي تدابیر

گرانو ورونو که محرقه یاست یا ملاریا کوشش وکړی چی احتیاطی تدابیر ورته جدی ونیسی د ځان درد , تبه , دسر

درد , دبدن سستی د اشتها خرابوالی د بوی د احساس کموالی ټوخی , د ستونی او سینی درد داهغه اعراض اوعلایم دی چی جدی پاملرنی ته اړتیا لری

هڅه وکړی ځان د نور فامیل نه تجرید کړی ماسک استعمال کړی دټوخی او پرنجی وخت کی خوله پټه کړی د شکر ناروغی قلبی او د پښتورگو د ناروغی لرونکی شخص او عمر خوړلی د فامیل غړو نه لری اوسی

په گرمو اوبو مالگی سره غړغړه د ورځی لس پنځلس ځلی وکړی

د یخو اوبو څخه ډډه وکړی گرم مایعات زیات استعمال کړی

لیمو شهد په چای کی نوش جان کړی

میوه او سبزی سلاد زیات وخوری ویټامین سی لرونکی میوی ډیری وکاروی



او,مهمه خبره چی هیڅ تشویش ورته ونکړی چی دتشویش د ناروغی د زیاتوالی سبب کیږی

الحمد لله څومره یی چی د خطر اوازه ډیره ده دومره خطرناک هم ندی اکثره یی خفیف او,متوسط شکل وی شدید حالت یی ډیر کم دی هغه هم په زړو او نورو ناروغی لرونکو وگړو کی لیدل کیږی

که اوس هم څوک احتیاط نه کوی او وایی چی زمونږ عقیده کلکه ده نو پوه شه چی دا کس ډیر غټ جاهل او ظالم دی چی داهر څه وینی او بیا هم پخپل فامیل او کلیوالو رحم نه کوی او د خپل جها لت نه لاس نه اخلی

د الله په خاطر هم پخپل فامیل ولس بچو او نورو خلکو ورحمیږی او کرونا جدی وگڼي

خپل تدابیر ونسی باقی ځانونه الله ته وسپاری

داکتر اصیل صمیم